بــــریــــا د ټولو هیله

شپږم کال،شپږمه ګڼه
جون - ۲۰۱۹ کال

د افغانستان اسلامي بانک
Islamic Bank of Afghanistan

په هېواد کې لومړنی بشپړ اسلامـــي بانک

2121 www.ibafg.com @ info@ibafg.af
WESTERN UNION WU moving money for better
ATM 24 HOURS
SWIFT
Online banking
برښنا
Mobile APP

د افغانستان کرکټ بورډ
د رسنيو څانگه
مياشتنی مجله
جون - ۲۰۱۹

مسوول مدير: عبدالله خان پکتانی
ليکوالان او راټولوونکي:
نظيم جار عبدالرحيمزی، محمد فريد هوتک، بختيار ساحل،
رحمت ديوان، محمد نعمان اشرفي او پرهيز شگيوال
عکس اخېستوونکي:
سيد حسرت سادات، احمد خبير فنا او حقمل مسعودزی
ډيزاين: احمد عابد سعادت
بازار موندنه: نجي الرحمن عزيزي

media@afghancricket.af
AfghanistanCricketboardOfficial
@ACBOfficials
afghanistancricketboard
www.cricket.af
Alokozay Kabul International Cricket Stadium
Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul Ghani
Khan Road, Kabul Afghanistan

افغان کرکټ
AFGHAN CRICKET

لیکلړ

- د افغانستان غوره لیگ ۱
- اکرام علیخېل د سچن ټنډولکر ریکارډ مات کړ ۲
- د شپږیزي لیگ شپږم پړاو د روان کال د زمري میاشتې په پای کې ترسره کېږي ۳
- ملي لوبډله په سپټمبر کې د درې اړخیزه لوبلړۍ په موخه بنگله دېش ته ځي ۴
- د بلخ کرکټ لوبغالي د جوړېدو او رغنیزو چارو هوکړه لیک لاسلیک شو ۵
- د کرکټ ۱۵ ملي لوبغاړو ته د اپارتمانونو کیلۍ وسپارل شوې ٦
- کریکت برای همه در قله های کوه های بدخشان ۸
- لس افغان لوبغاړي چې تر ۱۰۰۰ زیاتې منډې یې پوره کړې ۱۰
- نړیوال جام کې افغانستان د سیالو لوبډلو پر وړاندې ۱۴
- انډي مولز د غوراوي کمیټې مسوول وټاکل شو ۲۴
- زما ارمان دی چې د دایکندي لوبغاړي په ملي لوبډله کې ولوبېږي ۲۸
- افغان ا تلان ۳۰
- لس افغان لوبغاړي چې تر ۱۰۰۰ زیاتې منډې یې پوره کړې ۳٦
- د نړیوال جام تاریخ ۴۴
- Rashid Khan Afghan, Nomad, Superstar ۵۳

د افغانستان غوره لیگ

#ویاړ_د_افغانانو

د روان کال اکتوبر میاشت
کې د افغانستان شل اوریز
غوره لیگ دویم پړاو.

۵ لوبډلې
۲۴ لوبې

دور دوم لیگ برتر بیست
آوره افغانستان در ماه
اکتوبر سال جاری میلادی.

۵ تیم
۲۴ مسابقه

اکرام علي خېل د سچن ټنډولکر ریکارډ مات کړ

د نړیوال جام په ترځ کې د ویسټ انډیز پر وړاندې افغان لوبډلې که څه هم په ۲۳ منډو ماته وخوړله، خو ځوان ویکټ ساتونکي او توپوهونکي اکرام علي خېل په دغه لوبه کې د سچن ټنډولکر ۲۷ کلن ریکارډ مات کړ.

اکرام په نړیوال جامونو کې تر ټولو ځوان او کم عمره توپوهونکی شو چې په ۹۲ توپونو یې ۸٦ منډې وکړې. نوموړي د ۱۸ کالو او ۲۷۸ ورځو په عمر کې له ۸۰ زیاتې منډې وکړې. همدا راز دا ریکارډ مخکې د هندی لوبډلې توپوهونکي سچن ټنډولکر سره و، چې هغه په ۱۹۹۲ نړیوال جام کې د ۱۸ کالو او ۳۱۸ ورځو په عمر کې ۸۴ منډې کړې وې.

د شپږیزي لیګ شپږم پړاو د روان کال د زمري میاشتې په پای کې ترسره کېږي

د شپږیزي کرکټ لیګ د شپږم پړاو لوبې د روان لمریز کال د زمري میاشتې تر پایه پیلیږي، د جون په ۳۰مه نېټه د افغانستان کرکټ بورډ د سرپرست اجراییه مشر اسدالله خان او د شپږیزي کرکټ لیګ د پنځو لوبډلو د ملکیت له امتیاز لرونکو سره قراردادونه لاسلیک شول.

په همدې موخه د افغانستان کرکټ بورډ کې د لوبډلو د امتیاز د ورکړې په تړاو یوه غونډه ترسره شوه چې پکې د کرکټ بورډ سرپرست اجراییه رییس اسدالله خان او د امتیاز لرونکو شرکتونو په استازولی ضیا الحق وزیرزي، حسیب نبي، ډاکټر ضیاء الرحمن، راشد اعظمي او نورالحق ملکزي ګډون وکړ.

د غونډې په پیل کې ښاغلي اسدالله خان په خپلو خبرو کې د کورني کرکټ په اړه خبرې وکړې چې په وینا یې، شپږیزه کرکټ لیګ هغه لیګ دی چې پټ استعدادونه پکې موندل کېږي. نوموړي همدا راز له ملي سوداګرو غوښتنه وکړه، چې د شپږیزي کرکټ لیګ وروسته د افغانستان غوره لیګ هم ترسره کېږي او په هغه کې دې هم برخه واخلي.

د دغه لیګ لوبډلو د ملکیت امتیاز لرونکو په استازولی هم ضیاءالحق وزیرزي خبرې وکړې. نوموړي وویل چې کرکټ په افغانستان کې هغه لوبه ده چې د هېوادوالو پر مخونو یې مسکا راوستې ده او دوی به د کرکټ په برخه کې تل خپلې مرستې روانې وساتي.

نوموړي همدا راز په نورو ملي سوداګرو او پانګوالو هم غږ وکړ چې د کرکټ په پرمختګ او وده کې ونډه واخلي.

په دغه غونډه کې د پنځو لوبډلو د امتیاز قرارداد ترسره شو چې پکې د سپین غر زمریانو لوبډلې د ملکیت امتیاز له مسلمیار ګروپ، د مس عینک اتلانو له وزیرزي ګروپ، د بند امیر ښامارانو له پاراګان سوداګریز ګروپ، د بوست ساتونکو له عارف عظیم کمپني لمیټډ او د امو نهنګانو د ملکیت امتیاز له المصافي نړیوال سوداګریز شرکت سره ترسره شو.

باید ووېل شي چې د کابل بازانو لوبډلې د ملکیت امتیاز تر دې مهاله پورې چا ته نه دی ورکړل شوی.

د شپږیزي کرکټ لیګ شپږم پړاو به د اسد په پای کې د کابل په نړیوال لوبغالي کې پیلېږي.

ملي لوبډله په سپټمبر کې د درې اړخیزه لوبلړۍ په موخه بنګله دېش ته ځي

د کرکټ ملي لوبډله به د روان ۲۰۱۹ زیږدیز کال د سپټمبر په میاشت کې د افغانستان، بنګله دېش او زمبابوې ترمنځ د درې اړخیزه سیالیو لوبلړۍ په موخه بنګله دېش هېواد ته سفر وکړي.
په دغو سیالیو کې به افغان لوبډله لومړی د بنګله دېش پر وړاندې د ټېسټ یوه سیالي وکړي چې سربېره پر دې به د زمبابوې او بنګله دېش لوبډلو پر وړاندې دوه-دوه شل اوریزې نړیوالې لوبې هم وکړي چې په پایله کې به دوه د ډېرو نمره لرونکې لوبډلې د یو بل پر وړاندې پایلوبه هم وکړي.
د ټېسټ لوبې په ګډون د یادو سیالیو لړۍ به د سپټمبر په شپږمه نېټه پیل شي او د همدې میاشتې تر ۲۳مې نېټې پورې به دوام ومومي.
باید وویل شي د افغانستان الف ملي لوبډله به هم د راتلونکې جولای میاشتې له پیل تر پایه د بنګله دېش الف لوبډلې پر وړاندې په یاد هېواد کې دوه څلور-ورځنۍ فرسټ کلاس او پنځه یو ورځنۍ (لېسټ اې) لوبې ترسره کوي.
دغه راز د یادونې وړ ده چې د افغانستان ملي لوبډله به د روان کال د نومبر په میاشت کې د ویسټ انډیز پر وړاندې په هندوستان هېواد کې د شل اوریزو او یو ورځنیو نړیوالو او ټېسټ لوبو لوبلړۍ ترسره کړي چې د ډسمبر میاشتې تر لومړیو به دوام ومومي.

Triangular T20I Series 2019 in Bagladesh

AFGHANISTAN | BANGLADESH | ZIMBABWE

DATE	MATCH	TEAMS
14 Sept	1st T20I	Afghanistan v Zimbabwe
15 Sept	2nd T20I	Afghanistan v Bangladesh
18 Sept	3rd T20I	Afghanistan v Bangladesh
20 Sept	4th T20I	Afghanistan v Zimbabwe
23 Sept	FINAL	TBC v TBC

د بلخ کرکټ لوبغالي د جوړېدو او رغنیزو چارو هوکړه لیک لاسلیک شو

د افغانستان کرکټ بورډ عمومي مشر ښاغلي عزیزالله فضلي د جون په ۱۲مه نېټه د یوې خبري ناستې په ترڅ کې د فوشنج ودانیز شرکت له مرستیال یورش سلیمي سره د بلخ کرکټ لوبغالي د ودانیزو چارو د پیلولو هوکړه لیک، لاسلیک کړ او له هغوی یې غوښتنه وکړه چې د دغه لوبغالي چارې په خپل وخت په معیاري توګه ترسره کړي.
ښاغلي فضلي په دغه خبري ناسته کې وویل: ((د بلخ کرکټ لوبغالی په شمال کې یوه ستره پروژه ده چې د دوست هېواد هندوستان په مالي ملاتړ جوړېږي او په بلخ او شا وخوا ولایتونو کې به ورسره کرکټ ډېر پرمختګ وکړي او ډېر استعدادونه به وروزل شي.))
هغه همدا راز زیاته کړه چې له یاد ودانیز شرکت څخه مو هیله ده، د یادې پروژې ټول کارونه په معیاري او ښه توګه ترسره کړي، څو په راروان سیزن کې په دغه لوبغالي کې د کورنې کرکټ سیالۍ ترسره شي. د نوموړي په وینا، چې د کرکټ بورډ هڅه دا ده چې په هر ولایت کې د لوبغاړو لپاره اسانتیاوې رامنځته کړي او د هغوی استعدادونه وروزي.
نوموړي همدا راز یادونه وکړه چې د میدان وردګ، لوګر او پکتیکا ولایتونو د لوبغالو د رغنیزو چارو قراردادونه به هم ژر د ښار جوړونې وزارت د تدارکاتو ریاست له لوري له شرکتونو سره لاسلیک شي او اوسمهال د یادو پروژو د تدارکاتو لړۍ ۹۰ سلنه بشپړه شوې ده.
همدارنګه د فوشنج ودانیز شرکت مرستیال ښاغلي سلیمي وویل: ((کرکټ د افغانستان لپاره یوه ویاړلې لوبه ده او ملي لوبغاړو هېواد ته سترې خوشحالۍ راوړې دي. زموږ لپاره دا پروژه یوه ویاړمنه پروژه ده او موږ به خپله ټوله هڅه وکړو چې په وخت او معیاري ډول دغه پروژه بشپړه کړو.))
د یادونې وړ ده چې د بلخ کرکټ لوبغالي پروژه د اقتصاد وزارت د تدارکاتي پروسې له لارې د افغانستان کرکټ بورډ په مستقیمه همکارۍ د ازاد رقابت له لارې د فوشنج ساختماني شرکت سره د (اویا میلیونه اووه لکه او پنځه زره نهه پنځوس) افغانیو په ارزښت قرارداد شوې ده چې مالي ملاتړ یې د هندوستان هېواد کړی دی.
په دغه پروژه کې دوه منزله اساسي او معیاري تعمیر یا پویلین، د ۴۰۰۰ نندارچیانو د ناستې ځای، د استوګنې لپاره اساسي خونې، د تمریناتو لپاره اکاډمي، د لوبغالي چمن، د اوبو رسونې سیسټم، احاطوي دېوال او نور ساختماني کارونه شامل دي، چې د یو نیم کال په موده کې به بشپړه شي.

د کرکټ ۱۵ ملي لوبغاړو ته د اپارتمانونو کیلۍ وسپارل شوې

د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رییس ښاغلي عزیزالله فضلي او د ښار جوړونې او اراضۍ وزارت د املاکو او اسکانو رییس ښاغلي قیوم شمس لخوا د کرکټ ملي لوبغاړو ته د کورونو کیلۍ ورکړل شوې چې سربېره پر دې ورته کورونه هم وسپارل شول.

د جون په ۱۲مه نېټه د افغانستان کرکټ بورډ مرکزي دفتر کې د رسنیو په حضور هغو لوبغاړو ته د دوه کوټو لرونکو اپارتمانونو کیلۍ ورکړل شوې چې په ۱۳۹۲ لمریز کال کې د وخت د ولسمشر له لوري د یوه فرمان له مخې منظور شوي وو.

د کورونو د کیلۍ د ورکړې پر مهال د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رییس ښاغلي عزیزالله فضلي له ولسمشر څانګړې مننه وکړه او ویې ویل: ((ملي لوبغاړو واقعاً ولس ته ډېرې خوښۍ راوړې دي او د دوی حق جوړېده چې په خپل هېواد کې د خپلو کورونو خاوندان شي.
زه له ولسمشر څخه ځانګړې مننه کوم چې دغه ملي لوبغاړي یې وستایل او هغه لوبغاړي چې له دې پروسې پاتې شوي دي، د هغوی پېشنهاد به هم مونږ وکړو، تر څو هغوی ته هم دغه امتیاز ورکړل شي.))

ښاغلي شمس وویل چې د هغه ۲ اتاقه اپارتمانونو د جوړولو چارې بشپړې شوې، چې ولسمشر یې د ښار جوړونې او اراضۍ وزارت ته فرمان ورکړی و او نن دوی لوبغاړو ته کیلۍ ورکوي او کورونه ورته سپاري.

باید وویل شي چې د ۲۰۱۵ نړیوال جام او د ۲۰۱۴ نولس کلنو نړیوال جام ته د لوبډلو د لارموندنې په خوشحالۍ کې په ۱۳۹۲ کال کې د یو فرمان له لارې ولسمشر ملي لوبغاړو ته د غازي میر بچه خان مډال او د کورونو د ورکړې سپارښتنه کړې وه، چې مډالونه هغه مهال د جناب ولسمشر له خوا لوبغاړو ته ورکړل شوي ول، خو د کورونو ساختماني چارې د ښار جوړونې وزارت له خوا پیل شوې وې چې اوس یې کارونه بشپړ شول او ۲۷ لوبغاړو ته دوه اتاقه اپارتمانونه وسپارل شول.

د یادولو ده وړ ده چې په دغه ناسته کې د ټولو ۲۷ لوبغاړو له منځه نن ۱۷ لوبغاړو ته د کورونو کیلۍ وسپارل شوې چې پاتې لس کسان به د نړیوال جام له راستنېدو وروسته د دغو اپارتمانونو کیلۍ ترلاسه کړي.

کریکت برای همه در قله های کوه های بدخشان

نماینده گان بخش مطبوعات کریکت بورد افغانستان این بار بخاطر برنامه (کریکت برای همه) به ولایت کوهی و زیبای بدخشان سفر کرده بودند.

این سفر که برای یک هفته ادامه یافت، در آن با علاقه مندان کریکت، بازیکنان جوان، معلمین و شاگردان مکاتب و بزرگان قومی در مورد اصول کریکت معلومات همه جانبه شریک ساخته شدند.

کریکت بورد افغانستان برنامه (کریکت برای همه) را از سال گذشته (۲۰۱۸م) بدینسو به راه انداخته که در جریان آن نمایندگان و مربیان این برنامه معلومات همه جانبه را با مردم شریک میکنند.

ورزش کریکت در حال حاضر در سرتاسر کشور مقام اول را کسب کرده است، به همین اساس همه هموطنان ما حق دارند، تا در مورد اصول و بازی کریکت معلومات مختلف داشته باشند و از آن آگاه شوند.

ولایت بدخشان که در شمال شرق کشور موقعیت دارد، بیشترین مناطق آن زیبا و کوهی میباشد، این ولایت ۲۸ ولسوالی دارد و مرکز آن شهر فیض آباد است.

منابع و ذخایر طبیعی لعل و لاجورد این ولایت از ارزش خاص برخوردار است. بدخشان یگانه ولایت افغانستان است که با کشورهای پاکستان، تاجکستان و چین سرحد مشترک دارد.

گرچه باشندگان و جوانان این ولایت با اصول و بازی کریکت زیاد بلدیت نداشتند، به همین اساس بوده که از سوی مربیان و نمایندگان کریکت در مناطق مختلف در مورد این بازی آموزش دیدند و چیزهای زیادی را در مورد بازی کریکت یاد گرفتند و به همین خاطر روزانه ده ها جوان و نوجوان به این هدف می آمدند، تا این بازی را یاد بگیرند.

اساتید و مدیران مکاتب مختلف در جریان این برنامه اظهار خوشی نموده، گفتند کریکت در زمان کم زیاد پیشرفت کرد و بالای بازیکنان خود افتخار میکنند. به گفته آنان ((تاکنون در این مورد در ولایت بدخشان همچو کدام برنامه به راه انداخته نه شده بود، نوجوانان شان زیاد علاقه دارند تا بازی کریکت را یاد بگیرند و در این راستا اصول و مقررات این بازی را نیز بدانند.))

همچنان در این سفر به استادان سپورت و بزرگان در مورد تاریخچه کریکت افغانستان، تاریخچه کریکت، اصول و قوانین کریکت و مواد اولیه معلومات همه جانبه شریک ساخته شدند و بالای آنها مواد تهیه شده نیز توزیع شدند.

استادان مکاتب نیز بعد از اشتراک در این برنامه و کسب معلومات تعهد سپردند، تا بعد از این بخاطر حفظ روابط حسنه میان مکاتب مسابقات کریکت را به راه می اندازند و در مورد این بازی با شاگردان مکاتب شان معلومات شریک میکنند.

در جریان این برنامه وسایل تهیه شده کریکت (ویکتها، توپ ها، لباس و بیتها) نیز بالای معلمین و متعلمین مکاتب توزیع شدند و همچنان مواد معلوماتی نیز به دسترس آنان قرار گرفتند.

قابل یادآوری است که برنامه کریکت برای همه قبل از این در ولایات خوست، بامیان، فاریاب، هرات و تخار نیز به راه انداخته شده و در آینده نیز در نظر است که تا اخیر سال جاری میلادی در ولایات دیگر کشور نیز راه اندازی گردد.

لس افغان لوبغاړي چې تر ۱۰۰۰ زياتې منډې يې کړې

د افغانستان ملي لوبډلې خپله لومړۍ يو ورځنۍ نړيواله لوبه د سکاټلنډ پر وړاندې په ۲۰۰۹ کې د اپريل په ۱۹مه نېټه ترسره کړې وه، له هغه وخت راهيسې تر دې مهاله پورې افغان لوبډلې ۱۲۱ يو ورځنۍ نړيوالې لوبې ترسره کړې دي. په دغه لوبو کې افغان لوبډلې ۵۹ لوبې ګټلې او ۵۸ لوبو کې يې ماته خوړلې ده. همدا راز يوه لوبه مساوي شوې او ۳ لوبې بې نتيجې پای ته رسېدلې دي.
د افغانستان تر وروستۍ يو ورځنۍ نړيوالې لوبې پورې، چې د بنګله دېش سره يې د ۲۰۱۹ نړيوال جام په ترڅ کې په ۲۴ جون ۲۰۱۹ ترسره کړه، ۴۷ افغان لوبغاړي د افغانستان لپاره په نړيوالو يو ورځنيو لوبو کې لوبېدلي دي، د دوی له جملې څخه بيا ۱۰ لوبغاړي داسې دي چې هغوی تر ۱۰۰۰ زياتې منډې کړې دي، په دغه لس لوبغاړو کې بيا څلور لوبغاړو تر ۲۰۰۰ زياتې منډې کړې چې په دې ليکنه کې د هغه لس لوبغاړو په اړه معلومات درکوو چې د افغانستان لپاره يې په نړيوالو يو ورځنيو لوبو کې ۱۰۰۰ يا تر ۱۰۰۰ زياتې منډې پوره کړې دي.
د يادونې وړ ده چې د زر منډو هدف تر ټولو کمو لوبو کې رحمت شاه پوره کړی دی، نوموړی په ۳۱ لوبو کې دغه هدف ته رسېدلی دی.

محمد شهزاد (۲۷۲۷)

د افغان لوبډلې د پيل توپوهونکی محمد شهزاد چې د افغانستان ملي لوبډلې لپاره په ۸۴ يو ورځنيو لوبو کې لوبېدلی دی، تر ټولو زياتې منډې يې کړي دي. نوموړي ۲۷۲۷ منډې کړې دي چې دا د يوه افغان لوبغاړي له لوري په يو ورځنيو لوبو کې تر ټولو زياتې منډې دي.
نوموړي په يوه لوبه کې تر ټولو زياتې ۱۳۱ ناسوځېدلې منډې کړې دي، اوسط يې ۳۳.٦٦ او سټرايک رېټ يې بيا ۸۸.۴۸ دی. هغه همدا راز ٦ سليزې او ۱۴ پنځوسيزې هم وهلې دي.

محمد نبي (۲٦۸۱)

محمد نبي د افغانستان ملي لوبډلې هغه لوبغاړی دی چې د افغانستان لپاره په زياتو لوبو کې لوبېدلی دی. افغانستان تر دې مهاله پورې ۱۲۱ يو ورځنۍ لوبې کړې چې په ۱۱۹ لوبو کې محمد نبي هم لوبېدلی دی.
هغه د افغان لوبډلې مخکښ الراونډر دی چې په توپوهنه او توپ اچونه دواړو برخو کې يې ښه لوبه ننداريانو ته وړاندې کړې ده. نوموړی د افغانستان دويم توپوهونکی دی چې زياتې منډې يې کړي. هغه په ۱۱۹ لوبو کې ۲٦۸۱ منډې کړې دي. اوسط يې ۲۷.۹۲ او سټرايک رېټ يې ۸٦.٦۲ دی. نوموړي په يوه لوبه کې زياتې منډې ۱۱٦ کړې، يوه سليزه او ۱۴ پنځوسيزې يې هم وهلې دي.
همدا راز محمد نبي د توپ اچونې په برخه کې هم ۱۲۵ ويکټې ترلاسه کړې دي چې تر راشد خان وروسته دويم لوبغاړی دی چې زيات لوبغاړي يې سوځولي دي.

رحمت شاه (۲۱۵۸)

رحمت شاه چې اوس په ټېسټ لوبو کې د افغان ملي لوبډلې لوبډلمشر هم دی، دريم افغان لوبغاړی دی چې په يو ورځنيو لوبو کې يې زياتې منډې ترلاسه کړې دي. هغه بيا لومړنی افغان لوبغاړی دی چې په کمو لوبو يعنې ۳۱ لوبو کې يې د زر منډو هدف پوره کړی دی.
نوموړي په ٦۸ لوبو کې ۲۱۵۸ منډې کړې دي. هغه په يوه لوبه کې ۱۱۴ زياتې منډې کړي، ۴ سليزې او ۱۴ پنځوسيزې يې وهلي دي. د نوموړي اوسط ۳۴.۸۰ او سټرايک رېټ يې بيا ٦۹.۷۴ دی.
همدا راز رحمت شاه په توپ اچونه کې هم تر دې مهاله پورې ۱۴ لوبغاړي سوځولي دي.

اصغر افغان (۲۱۵۰)

د افغان لوبډلې پخوانی لوبډلمشر اصغر افغان د افغانستان وروستی توپوهونکی دی چې تر دوه زره زياتې منډې يې پوره کړي دي. نوموړی د افغانستان لپاره په ۱۰٦ يو ورځنيو لوبو کې لوبېدلی دی چې ۲۱۵۰ منډې يې کړې دي.
نوموړي په يوه لوبه کې زياتې ۱۰۱ منډې کړې دي. د هغه اوسط ۲۳.٦۲ دی او سټرايک رېټ يې بيا ٦۴.۷۷ دی. هغه يوه سليزه او ۱۱ پنځوسيزې هم په خپل نوم لري.

سميع الله شينواری (۱۷۸۶)

د افغان لوبډلې الراونډر سميع الله شينواري تر دې مهاله پورې د افغانستان لپاره ۸۲ يو ورځنۍ لوبې ترسره کړې دي. نومړي په ۸۲ لوبو کې ۱۷۸٦ منډې کړي او په يوه لوبه کې يې بيا زياتې منډې ۹٦ دي.

هغه ۱۱ پنځوسيزې هم په خپل نوم لري. اوسط يې ۲۹.۲۷ دی او سټرايک ريټ يې بيا ٦۵.۵٦ دی.

نومړی همدا راز توپ اچونه هم کوي چې تر دې مهاله پورې يې په يو ورځنيو لوبو کې ۴۵ لوبغاړي سوځولي دي.

نجيب الله ځدراڼ (۱۴۲۷)

د افغان لوبډلې د مډل ارډر توپوهونکی نجيب الله ځدراڼ هم يو له هغه لوبغاړو څخه دی چې تر ۱۰۰۰ زياتې منډې يې کړې دي. هغه د افغانستان لپاره په ٦۲ يو ورځنيو لوبو کې لوبېدلی دی، چې ۱۴۲۷ منډې يې کړي دي.

نومړي په يوه لوبه کې زياتې ۱۰۴ ناسوځېدلې منډې کړې دي. اوسط يې ۲۹.۷۲ دی او سټرايک ريټ يې بيا ۹۰.۷۷ دی. نومړی يوه سليزه او ۱۰ پنځوسيزې هم په خپل نوم لري.

نور علي ځدراڼ (۱۲۱٦)

د افغانستان د پيل توپوهونکی نور علي ځدراڼ بل هغه لوبغاړی دی چې تر زر زياتې منډې يې پوره کړې دي. هغه د افغانستان لپاره ۵۱ يو ورځنۍ لوبې ترسره کړې چې ۱۲۱٦ منډې يې کړې دي.

اوسط يې ۲۴.۸۱ دی او سټرايک ريټ يې بيا ٦۳.۲۳ دی. هغه په يوه لوبه کې تر ټولو زياتې ۱۱۴ منډې کړې دي. نومړي ۱ سليزه او ۷ پنځوسيزې هم وهلي دي.

نوروز منګل (۱۱۳۹)

د افغان لوبډلې پخوانی لوبډلمشر او توپوهونکی نوروز منګل چې اوس د افغان ملي لوبډلې د توپوهونې روزونکی دی، په ۴۹ يو ورځنيو لوبو کې لوبېدلی دی.

نومړي د ۲۷.۱۱ په اوسط او د ۷۵.۳۳ په سټرايک ريټ سره ۱۱۳۹ منډې کړي دي. په يوه لوبه کې د هغه زياتې منډې ۱۲۹ وې. همدا راز ۲ سليزې او ۴ پنځوسيزې يې هم وهلي دي.

حشمت الله شهيدي (۱۰٦۲)

حشمت الله شهيدي د افغانستان د ټاپ ارډر توپوهونکی دی چې په روان ۲۰۱۹ نړيوال جام کې يې د زر منډو هدف پوره کړ. نومړی د افغانستان لپاره په ۳۸ يو ورځنيو لوبو کې لوبېدلی چې د ۳۳.۱۸ په اوسط او د ٦۳.۷۴ په سټرايک ريټ يې ۱۰٦۲ منډې کړې دي.

نومړي په يوه لوبه کې تر ټولو زياتې ۹۷ ناسوځېدلې منډې کړې دي او همدا راز ۹ پنځوسيزې يې هم وهلې دي.

ګلبدين نايب (۱۰۰۴)

د افغانستان د يو ورځنيو لوبو اوسنی لوبډلمشر ګلبدين نايب هغه وروستی توپوهونکی دی چې په يو ورځنيو لوبو کې يې د زر منډو هدف پوره کړ. نومړی د افغانستان لپاره په ٦۲ يو ورځنيو لوبو کې لوبېدلی دی او په نړيوال جام کې د جون په ۲۴مه نېټه د بنګله دېش پر وړاندې يې د زرو منډو هدف پوره کړ. هغه د ۲۲.۳۱ په اوسط او د ۷۲.۲۳ په سټرايک ريټ سره ۱۰۰۴ منډې کړې دي. نومړي ۵ پنځوسيزې هم وهلې دي. همدا راز نومړي د توپ اچونې په برخه کې بيا ۵۹ لوبغاړي سوځولي دي.

نړيوال جام کې افغانستان د سيالو لوبډلو پر وړاندې

MATCH 4 — BRISTOL

AFGHANISTAN vs AUSTRALIA

AFGHANISTAN 207		
NAJIBULLAH	51	49
RAHMAT SHAH	43	60
GULBADIN	31	33
RASHID	27	11
OVERS 38.2		
CUMMINS	3-40	8.2
ZAMPA	3-60	8
STOINIS	2-37	7
STARC	1-31	7

AUSTRALIA 209-3		
WARNER	89*	114
FINCH	66	49
SMITH	18	27
KHAWAJA	15	20
OVERS 34.5		
GULBADIN	1-32	5
MUJEEB	1-45	4.5
RASHID	1-52	8

AUSTRALIA WON BY 7 WICKETS

MATCH 7 — CARDIFF

SRI LANKA vs AFGHANISTAN

SRI LANKA 201		
PERERA	78	81
KARUNARATNE	30	45
THIRIMANNE	25	34
LAKMAL	15*	31
OVERS 36.5		
DAWLAT	4-30	9
NABI	2-34	6
RASHID	1-28	7.5

AFGHANISTAN 152		
NAJIB	43	56
HAZRAT	30	25
GULBADIN	23	32
LAKMAL	27	11
OVERS 32.2		
PRADEEP	4-31	9
MALINGA	3-39	6.4
UDANA	1-28	6

SRI LANKA WON BY 34 RUNS (DLS METHOD)

MATCH 13 | TAUNTON

ICC CRICKET WORLD CUP ENGLAND & WALES 2019

AFGHANISTAN vs NEW ZEALAND

AFGHANISTAN 172

HASHMATULLAH	59	99
HAZRATULLAH	34	28
NOOR ALI	31	38
AFTAB	14	10

OVERS 41.1

NEESHAM	5-31	10
FERGUSON	4-37	9.1
DE GRANDHOMME	1-14	4

NEW ZEALAND 173

WILLIAMSON	79*	99
TAYLOR	48	52
MUNRO	22	24
LATHAM	13*	18

OVERS 32.1

AFTAB	3-45	8.1

NEW ZEALAND WON BY 7 WICKETS

MATCH 21 | CARDIFF

ICC CRICKET WORLD CUP ENGLAND & WALES 2019

AFGHANISTAN vs SOUTH AFRICA

AFGHANISTAN 125

RASHID	35	25
NOOR ALI	32	58
HAZRATULLAH	22	23
IKRAM	9	33

OVERS 34.1

TAHIR	5-31	7
MORRIS	4-37	6.1
PHEHLUKWAYO	2-14	8
RABADA	1-36	8

SOUTH AFRICA 131-1

DE KOCK	68	72
AMLA	41*	83
PHEHLUKWAYO	17*	17

OVERS 28.4

GULBADIN	1-29	6

SOUTH AFRICA WON BY 9 WICKETS

MATCH 24 — OLD TRAFFORD

ENGLAND vs AFGHANISTAN

ENGLAND 397-6		
MORGAN	148	71
BAIRSTOW	90	99
ROOT	88	82
MOEEN	31*	9
OVERS 50		
GULBADIN	3-68	10
DAWLAT	3-85	10

AFGHANISTAN 247-8		
HASHMATULLAH	76	100
RAHMAT	46	74
AFGHAN	44	48
GULBADIN	37	28
OVERS 50		
ARCHER	2-52	10
RASHID	3-66	10
WOOD	2-40	10

ENGLAND WON BY 150 RUNS

MATCH 28 — SOUTHHAMPTON

INDIA vs AFGHANISTAN

INDIA 224-8		
KOHLI	67	63
K JADHAV	52	68
RAHUL	30	53
SHANKAR	29	41
OVERS 50		
NABI	2-33	9
GULBADIN	2-51	9
RAHMAT	1-22	5
MUJEEB	1-26	10

AFGHANISTAN 213		
NABI	52	55
RAHMAT	36	63
GULBADIN	27	42
NAJIBULLAH	21	23
OVERS 49.5		
SHAMI	4-40	9.5
CHAHAL	2-36	10
BUMRAH	2-39	10
H PANDYA	2-51	10

INDIA WON BY 11 RUNS

MATCH 31 | SOUTHHAMPTON

BANGLADESH — AFGHANISTAN

BANGLADESH	262-7	
MUSHFIQUR	83	87
SHAKIB	51	69
TAMIM	36	53
MOSADDEK	35	24
OVERS 50		
MUJEEB	3-39	10
GULBADIN	2-56	10
NABI	1-44	10
DAWLAT	1-64	9

AFGHANISTAN	200	
SHINWARI	49*	51
GULBADIN	47	75
RAHMAT	24	35
NAJIBULLAH	23	23
OVERS 47		
SHAKIB	5-29	10
MUSTAFIZUR	2-32	8
MOSADDEK	1-25	6
SHAIFUDDIN	1-33	8

BANGLADESH WON BY 62 RUNS

MATCH 36 | HEADINGLEY

AFGHANISTAN — PAKISTAN

AFGHANISTAN	227-9	
AFGHAN	42	35
NAJIBULLAH	42	54
RAHMAT	35	43
IKRAM	24	66
OVERS 50		
SHAHEEN	4-47	10
WAHAB	2-29	8
IMAD	2-48	10
SHAHDAB	1-44	10

PAKISTAN	230-7	
IMAD	49*	54
BABAR	45	51
IMAM	36	51
HARIS	27	57
OVERS 49.4		
NABI	5-29	10
MUJEEB	2-34	10
RASHID	1-50	10

PAKISTAN WON BY 3 WICKETS

MATCH 42 | ICC CRICKET WORLD CUP ENGLAND & WALES 2019 | HEADINGLEY

WEST INDIES			AFGHANISTAN		
311-6			288		
HOPE	77	92	IKRAM	86	93
POORAN	58	43	RAHMAT	62	78
LEWIS	58	78	AFGHAN	40	32
HOLDER	45	34	NAJIBULLAH	31	38
OVERS 50			OVERS 50		
DAWLAT	2-73	9	BRATHWAITE	4-63	9
RASHID	1-52	10	ROACH	3-37	10
NABI	1-56	10	GAYLE	1-28	6
SHIRZAD	1-56	8	THOMAS	1-43	7

WEST INDIES WON BY 23 RUNS

انډي مولز د غوراوي کميټې مسوول وټاکل شو

افغانستان کرکټ بورډ کې د يادې ادارې د مشرتابه له لوري يو لړ بدلونونه رامنځته شول چې د دغې ادارې د بورډ غړو تر څنګ ځينو نورو برخو ته هم نوي کسان معرفي شول.
د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رييس ښاغلي عزيزالله فضلي د جون په ۱۱مه نېټه د دغو بدلونونو په اړه خبري ناسته وکړه، چې د کرکټ بورډ ادارې د بورډ د پخوانيو غړو هر يوه حکمت خليل کرزي، اکليل حکيمي، سيد سعادت منصور نادري او احمد شاه سنګدل پر ځای سناتوره ګلالۍ نور ساپۍ، د ښار جوړونې او اراضي سرپرست وزير احمد جواد پيکار، د ولسمشر ستر سلاکار ضياء الحق امرخېل او په پاکستان کې افغان سفير شکرالله عاطف مشعل د بورډ نوي غړي معرفي شول.
ښاغلي فضلي د خپلو څرګندونو په ترڅ کې وويل: ((موږ ولسمشرۍ ماڼۍ ته د افغانستان کرکټ بورډ د بورډ غړو لپاره دغه نومونه لېږلي وو چې هغوی منظور کړل او له نن وروسته به دوی د دغې ادارې د بورډ غړي وي.))
همدارنګه د کرکټ بورډ د غوراوي کمېټې لپاره هم نوي کسان معرفي شول چې د غوراوي کمېټې څخه د چيف سليکټر ځای ختم کړای شو او پر ځای يې دوه غړي غوره شول چې يو يې له ۱۹ کلنو د کم عمره لوبغاړو اوسنی او د ملي لوبډلې پخوانی روزونکی انډي مولز او دويم يې مجاهد ځدراڼ ټاکل شوي دي.
ښاغلي فضلي وويل: ((مجاهد ځدراڼ له دې وړاندې د ملي لوبډلې د روزونکي، د غوراوي کمېټې او اړوند نورو برخو کې دندې ترسره کړې، همدا راز ښاغلی انډي مولز هم هغه يوازېنی بهرنی روزونکی دی چې د افغانستان نولس کلنو او اې لوبډلې د روزونکي په توګه يې دنده ترسره کړې او افغانستان ته راغلی دی او دلته يې لوبغاړو ته روزنه ورکړې ده.))
د غوراوي کمېټې پخوانی مشر دولت احمدزی بيا د کورني کرکټ د لوبډلو او کم عمره لوبغاړو د ملي لوبډلو (۱۵ کلن،

۱۷ کلن او ۱۹ کلن) د غوراوي کمېټې مسوول وټاکل شو چې له دې وروسته به هغه د کورني کرکټ لپاره لوبغاړي غوره کوي.
همدا راز ښاغلي فضلي وويل، د افغانستان کرکټ بورډ د اجراييه رياست بست چې اوسمهال د سرپرست مشر اسدالله خان له لوري پر مخ وړل کېږي، د دغه بست لپاره به هم نوي کسان چې د افغانستان کرکټ بورډ د اساسنامې په شرايطو برابر وي، د بورډ غړو په سلا-مشوره غوره شي او له ولسمشرۍ ماڼۍ څخه د منظورۍ ترلاسه کولو وروسته به په رسمي ډول معرفي شي.
د رسنيو په برخه کې هم بدلون راغی چې د رسنيو د برخې نوی مدير جار عبدالرحيمزی وټاکل شو.
د کرکټ بورډ عمومي رييس وويل چې د افغانستان پريمئير ليګ (اې پي ال) به د اکتوبر په مياشت کې ترسره کېږي او د دغه شل اوريزه ليګ د ښه ترسره کولو لپاره هم کمېټه ټاکل شوې چې په دغه کمېټې کې شاهد الکوزی، عتيق عباس، منهاج الدين راز او عبدالهادي دريځ د غړو په توګه غوره شوي دي.
ښاغلي فضلي وويل: ((دا ځل مو هڅه دا ده چې د APL ليګ تر تېر هغه هم ښه ترسره کړو او د همدې لپاره مو ورته کمېټه وټاکله چې ټول کارونه به په وخت او په روڼ ډول ترسره شي.))
نوموړي همداراز زياته کړه چې په دغه ليګ کې به د بهرنيو او د افغانستان د ملي لوبډلې د لوبغاړو تر څنګ په کورني کرکټ کې لوبېدونکي ډېر لوبغاړي هم ولوبېږي او هيله شته چې ښه استعدادونه به پکې راښکاره شي.



RANA رنا TECHNOLOGIES

The Leading ISP/ICT Company In Afghanistan

RANA Technologies Enterprises is the leading and award winning Internet Service Provider (ISP) & Information & Communications Technology (ICT) Enterprise in Afghanistan.

Adjacent to shaheed shrine, Shahr-e-Naw, Kabul, Afghanistan | +93 (0) 798 85 85 85 | www.ranatech.com | info@ranatech.com

411 معلومات INFORMATION

ستاسو دمعلوماتو نړۍ

معلومات 411 ، دعمومي معلوماتو څانګه د مسلکي
او تجربه لرونکو استازو په لرلو د اړینو او کره
معلوماتو په وړاندي کولو سره 24 ساعته د خپلو
ګرانو هیوادوالو په چوپړکي ده.

همدا مهال ۴۱۱ سره اړیکه ټینګه کړئ او خپل معلومات ترلاسه کړئ.

411

/malomaat.af | www.malomaat.af | info@malomaat.af

زما ارمان دی چې د دایکندي لوبغاړي په ملي لوبډله کې ولوبېږي

دایکندي یو له هغه ولایتونو څخه دی چې یو مهال پکې د کرکټ لوبه چا پېژنده هم نه، خو د دغه ولایت یوه اوسېدونکي په دغه ولایت کې د کرکټ د فعالیت لپاره متې رابډ وهلې او نن هغه خپله لوبډله لري او نه یوازې دا چې په خپل ولایت کې لوبې کوي، بلکې شا وخوا ولایتونو ته هم د لوبو لپاره ځي.

عبدالحکیم ابراهیمي چې د کډوالۍ پر مهال یې په پاکستان کې د کرکټ لوبه زده کړې وه او کله چې بېرته خپل ولایت دایکندي ته راوګرځېد نو دلته یې ولیدل چې هېڅوک له دې لوبې سره بلدتیا نه لري، نو له هغه وروسته یې هوډ وکړ چې په خپل ولایت کې به د کرکټ لوبې د ودې لپاره کار کوي.

هغه وایي، کله چې یې هوډ وکړ چې په دایکندي کې خلکو ته کرکټ وروپېژني، نو چا د کرکټ سره علاقه نه لرله، په خپل مصارف یې د کرکټ سامان واخیست، هلکانو ته به یې د ورځې پنځوس افغانۍ ورکولې تر څو د کرکټ په اړه ورته معلومات ورکړي او د کرکټ لوبې ورسره وکړي.

هغه وایي موږ به د کرکټ لپاره له خپلو کورونو لږ لېرې تللو، هلته به مې موټر هم په خپل مصارف نیوه، هلکانو ته به مې پیسې هم ورکولې او دا هر څه مې د دې لپاره کول چې هلکان له کرکټ سره بلد شي.

په تېرو څلورو کلونو کې ابراهیمي په دې وتوانېده چې په دایکندي کې خلک له کرکټ سره بلد کړي، هغه اوس شل تنه ځوانان داسې لري چې په خپله یې ورته د کرکټ روزنه ورکړې او هره جمعه هغوی په خپل منځ کې کرکټ کوي. هغه همدا راز د دایکندي په استازیتوب په نورو ولایتونو کې هم څلور سیالۍ ترسره کړې چې دوی پکې په دریو سیالیو کې بریا خپله کړې ده.

هغه له ډېر وخت راهیسې د معارف ریاست په مرسته په خپل مصارف په دایکندي ولایت کې په ښوونځیو ګرځي او د ښوونځیو ماشومانو ته د کرکټ په اړه عامه پوهاوی ورکوي. هغه وایي چې اوس په دغه ولایت کې نجونې هم له کرکټ سره مینه لري، خو دی امکانات نه لري چې هغوی ته د کرکټ کولو زمینه برابره کړي.

د دې پوښتنې په ځواب کې چې اوس کرکټ چېرته کوي؟ هغه وویل چې د المپیک کمېټې سره یې خبرې کړې او په دغه ولایت کې د فوټبال لوبغالی دی، دوی هم هغلته لوبې کوي، خو په وینا یې چې ستونزې هم ورته راولاړېږي، ځکه د فوټبال لوبه په لږ وخت کې ترسره کېږي او د کرکټ لوبه بیا ډېر وخت نیسي، همدا لامل دی چې کله کله ورته د فوټبال لوبغالي ستونزې جوړوي.

هغه وایي په لومړي سر کې ورته د کرکټ په اړه د خلکو پوهول ډېر ګران و، خو کله چې افغانستان پرلپسې بریاوې خپلولې او په ټول هېواد کې د کرکټ په اړه خلکو ته معلومات رسېدل، نو په دایکندي کې هم خلکو له دې لوبې سره لېوالتیا زیاته کړه او اوس چې هر چېرته د کرکټ په اړه عامه پوهاوی کوي، نو خلک له مخکې له کرکټ سره اشنا وي او په دې پوهېږي چې کرکټ یو له هغه لوبو څخه ده چې په نړیواله کچه یې د افغانستان لپاره ویاړونه راوړي دي.

هغه وایي، کله چې هم د افغانستان ملي لوبډلې لوبې وي، نو د ده په کوچنۍ دفتر کې بیا هلکان راغونډېږي او هلته لوبې ګوري. هغه وایي ((ډېر خوشحالېږم، زما کوچنی دفتر له هلکانو ډک وي او موږ ټول ډېر په مینه د افغانستان لوبې تعقیبوو.))

هغه په دې وياړي چې د افغانستان ملي لوبډله په نړیواله کچه له پیاوړو لوبډلو څخه ده او په هر ځای کې د افغانستان درې رنګه بیرغ رپېږي او ملي سرود غږېږي، هغه وایي چې من من غټېږم او دا مې ارمان دی چې د دایکندي لوبغاړي هم په ملي لوبډله کې د افغانستان استازیتوب وکړي.

نوموړي د دایکندي ولایت مقام ته هم په دغه ولایت کې د کرکټ اکاډمۍ او لوبغالي لپاره پیشنهاد کړی دی، خو وایي چې تر دې مهاله پورې یې مثبت ځواب نه دی ترلاسه کړی. هغه وایي که چېرته په دغه ولایت کې د کرکټ اکاډمۍ او لوبغالی ولري نو دوی به د کرکټ په برخه کې نور هم پرمختګ وکړي. هغه وایي که موږ تکړه روزونکی پیدا کړو نو یقین لرم چې له دایکندي څخه به داسې هلکان د کرکټ میدان ته راشي چې په نړیواله کچه به نوم وګټي.

هغه د خپلې لوبډلې د دوه هلکانو ستاینه کوي، هغه وایي چې په لوبډله کې ټول تکړه هلکان لري، خو الطاف حسېن بیا د دوی د لوبډلې یو تکړه الراونډر دی، چې هم ښه توپوهنه کوي او هم توپ اچونه، د دې تر څنګ حسین بیا یو ښه ویکټ ساتونکی هم دی. همدا راز عصمت الله نوروزي بیا له هغه لوبغاړو څخه دی چې په ډګرساتنه کې ډېر مهارت لري.

د ابراهیمي درې زامن په کابل کې یوه کرکټ اکاډمۍ کې د کرکټ روزنه ترلاسه کوي، هغه وایي چې د کرکټ په اړه یې ورته ډېر وخت په خپله هم روزنه ورکړې ده، خو اوس غواړي چې زامن یې رسمي کرکټ زده کړي او مخکې لاړ شي.

نوموړی وایي چې غواړي په هغه ځایونو کې خلکو ته د کرکټ په اړه عامه پوهاوی ورکړي، په کومو ځایونو کې چې د کرکټ سره خلک بلدتیا نه لري.

هغه ډېر په یقین سره دعوه کوي چې که چېرته په دایکندي ولایت کې ورته اسانتیاوې برابرې شي، نو د افغانستان ملي لوبډلې او نورو لوبډلو لپاره به لوبغاړي وروزل شي او په نړیواله کچه به د افغانستان نوم روښانه کړي.

افغان اتلان

«دوی د توپوهنې او توپ اچونې په برخه کې د لوبې د بریا وړتیا لري او دوی دغه وړتیا په وروستي اسیا جام کې ښکاره کړه.» نیوزلنډی توپوهونکی کولین مونرو

... د تېر په دوام

راشد خان

د کرکټ په هر مېدان کې ځلېدلی راشد خان د افغانستان یو له مخکښو لوبغاړو څخه دی، هغه نه یوازې دا چې د خپلې ښې توپ اچونې له امله ټوله نړۍ حېرانه کړې بلکې په سخت وخت کې یې د لوبډلې لپاره په زړه پورې توپوهنه هم ترسره کړې او د ملي لوبډلې په ګډون چې په هرې لوبډلې کې لوبېدلی نو بریاوې یې ورته په برخه کړې دي.

هغه د افغانستان ملي لوبډلې په ګډون د نړۍ په سترو تجارتي لیګونو کې لوبېدلی دی او په هر مېدان کې یې د افغانستان نوم ځلولی دی. په جون ۲۰۱۷ کې راشد خان په یو ورځنیو لوبو کې د دویمه درجه لوبډلو تر ټولو ښه توپ اچونه ترسره کړه. د ۲۰۱۸ په فبرورۍ میاشت کې نوموړی د ایي سي سي یو ورځنیو غوره توپ اچوونکو په برخه کې راغی. همدا راز په همدغه میاشت کې نوموړی د شل اوریزو توپ اچوونکو په برخه کې هم لومړي سر ته راغی. د ۲۰۱۸ په سپتمبر کې نوموړی د ایي سي سي په الراونډرانو کې هم لومړی مقام خپل کړ.

اوس مهال راشد خان د یو ورځنیو لوبو الراونډرانو په برخه کې په دویم مقام دی، د شل اوریزو لوبو په برخه کې بیا د نړۍ د لومړي صف توپ اچوونکی دی او د یو ورځنیو توپ اچوونکو په برخه کې بیا دریم مقام لري.

په ۱۰ مارچ ۲۰۱۷ کې د ایرلنډ پر وړاندې په دوهمه شل اوریزه لوبه کې نوموړي په لومړي ځل یوه لوبه کې پنځه ویکټې ترلاسه کړې، دا د یو افغان لوبغاړي له خوا تر ټولو ښه توپ اچونه وه او همدا راز په شل اوریزو لوبو کې څلورم لوبغاړی شو. نوموړی همدا راز د شل اوریزو لوبو یوازینی لوبغاړی دی چې په دوه اورونو کې یې پنځه ویکټې ترلاسه کړې.

د مارچ په ۱۷مه ۲۰۱۷ کې د ایرلنډ پر وړاندې په یو ورځنۍ لوبه کې راشد خان تر ټولو ښه توپ اچونه ترسره کړه چې د ۴۳ منډو په ورکولو سره یې ٦ لوبغاړي وسوځول، په دغه لوبه کې پال سټرلنګ هم ٦ لوبغاړي سوځولي و او ۵۵ منډې یې ورکړې وې.

راشد خان بیا په یو ورځنیو لوبو کې تر ټولو ښه توپ اچونه د ویسټ انډیز پر وړاندې ترسره کړې ده، د جون په نهمه ۲۰۱۷ کې د ویسټ انډیز پر وړاندې راشد خان ۱۸ منډو په ورکولو سره ۷ لوبغاړي وسوځول.

که په یو ورځنیو لوبو کې د افغانستان ملي لوبډلې د توپ اچوونکو خبره وشي نو تر دې مهاله چې درې لوبو کې تر ټولو ښه توپ اچونه د یوه لوبغاړي له خوا ترسره شوې، هغه راشد خان ترسره کړې ده. نوموړي د ویسټ انډیز پر وړاندې ۱۸/۷، د ایرلنډ پر وړاندې ۴۳/٦ او د زمبابوې پر وړاندې ۲۴/۵ په زړه پورې توپ اچونه ترسره کړې ده.

د ۲۰۱۸ په جنورۍ کې ایي سي سي د دویمه درجه هېوادونو تر ټولو غوره لوبغاړی راشد خان اعلان کړ. د ۲۰۱۸ نړیوال جام غوراوي لوبو کې د اصغر افغان د ناروغۍ له امله راشد خان د ملي لوبډلې لوبډلمشر شو چې په نړیوال کرکټ کې تر ټولو کم عمره کپتان و.

د ۲۰۱۸ په اپریل کې راشد خان د ویسټ انډیز پر وړاندې د یوې شل اوریزې لوبې لپاره هم په World XI لوبډله کې واخیستل شو. د ۲۰۱۹ په فبرورۍ میاشت کې د ایرلنډ پر وړاندې په دریمه شل اوریزه لوبه کې نوموړي خپل لومړنی هېټریک ترسره کړ چې همدا راز په څلور پرلپسې توپونو یې څلور لوبغاړي وسوځول.

شل کلن راشد خان ۵۹ یو ورځنۍ لوبې ترسره کړې، د ۱۹۱۷ منډو په ورکولو سره یې ۱۲۵ ویکټې اخیستې چې ښه توپ اچونه یې د ۱۸ منډو په بدل کې ۷ لوبغاړي سوځول دي، اوسط یې ۳۳.۱۵ او اکانومي یې ۳.۹۰ ده. همدا راز څلور ځله یې ۵ ویکټې ترلاسه کړې دي.

شل اوریزو کې بیا نوموړي ۳۸ لوبې ترسره کړې او د ۱۱.۵٦ په اوسط یې ۷۵ لوبغاړي سوځولي دي چې ښه توپ اچونه یې د ۳ منډو په ورکولو سره ۵ لوبغاړي سوځول دي. اکانومي یې ٦.۰۲ ده او دوه ځله یې ۵ ویکټې هم ترلاسه کړې دي.

دوه ټېسټ لوبې یې هم ترسره کړې چې ۹ ویکټې یې پکې ترلاسه کړې دي.

د یو ورځنیو لوبو په توپوهنه کې یې بیا د ۴ پنځوسیزو په وهلو سره ۷۹۸ منډې کړې او ښه توپوهنه یې ٦۰ ناسوځېدلي منډې دي.

راشد خان چې د نړۍ یو له مخکښو توپ اچوونکو څخه دی او د انګلستان په پیچونو لوبېدلی دی نو د افغانستان ملي لوبډلې لپاره ډېر ګټور ثابتېدای شي، دا یې لومړی ځل دی چې په نړیوال جام کې ګډون کوي او د ښې ځلېدنې او د افغانستان لپاره د لاسته راوړنو ډېرې هیلې ترې کېږي.

دولت ځدراڼ

۳۱ کلن دولت ځدراڼ چې د افغانستان ملي لوبډلې میډیم فاسټ توپ اچوونکی دی، تر دې مهاله یې په یو ورځنیو لوبو کې ۱۰۷ او شل اوریزو لوبو کې ۳۹ ویکټې ترلاسه کړې دي.

هغه د افغانستان لپاره په ۷۷ یو ورځنیو لوبو کې لوبېدلی دی چې ۲۹.۲۹ اوسط او ۵.۳۲ اکانومي په لرلو سره یې په ۳۵۳۵ توپونو باندې ۳۱۳۵ منډې ورکړې او ۱۰۷ لوبغاړي یې سوځولي دي او ۳ ځله یې څلور څلور لوبغاړي هم سوځولي دي.

په لوبه کې ښه توپ اچونه یې بیا د ۲۲ منډو په بدل کې ۴ ویکټې اخیستل دي چې د ۲۰۱۹ د اکتوبر په ۲۴مه یې د زمبابوې پر وړاندې ترسره کړه.

تر دې مهاله دولت ځدراڼ د افغانستان لپاره ۳۳ شل اوریزې لوبې لوبولې دي چې د ۲۴.۴۳ په اوسط یې ۳۹ ویکټې ترلاسه کړې دي، په شل اوریزو کې یې اکانومي ۷.۹۴ ده.

د ۲۰۱۲ د مارچ په ۱۹مه د ایي سي سي نړیوال جام غوراوي لوبو کې د هانک کانګ پر وړاندې نوموړي د ۱۴ منډو په ورکولو سره ۵ لوبغاړي وسوځول چې دا یې په یوه شل اوریزه لوبه کې ښه توپ اچونه ده او د دغې لوبې د غوره لوبغاړي جایزه یې هم ترلاسه کړې وه.

نړیوالو شل اوریزو لوبو کې یې ښه توپ اچونه بیا د ۴۴ منډو په ورکولو سره ۴ لوبغاړي سوځول دي.

مجیب الرحمن

د افغانستان بل ورو آف بریک توپ اچوونکی مجیب الرحمن دی، یوازینی لوبغاړی دی چې په ۲۱مه پېړۍ کې زېږېدلی او د افغانستان ملي لوبډلې لپاره یې په نړیوالو لوبو کې ګډون کړی دی. هغه همدا راز تر ټولو کم عمره لوبغاړی دی چې په یوه لوبه کې یې پنځه لوبغاړي سوځولي دي، دغه مهال یې عمر ۱۶ کاله او ۳۲۵ ورځې و.

نوموړی په اې سي سي نولس کلنو ۲۰۱۷ اسیا کپ کې تر ټولو ښه وځلېده او زیاتې ویکټې یې ترلاسه کړې، هغه په ۵ لوبو کې ۲۰ لوبغاړي وسوځول او افغانستان ته یې په دغه سیالیو کې اتلولي وریه برخه کړه.

په خپله لومړۍ یو ورځنۍ نړیواله لوبه کې چې د ۲۰۱۷ د دسمبر په پنځمه یې د ایرلنډ پر وړاندې ترسره کړه، د ۲۴ منډو په ورکولو سره یې ۴ لوبغاړي وسوځول، افغانستان په دغه لوبه کې په ۱۳۸ منډو بریا خپله کړه او مجیب الرحمن په خپله لومړۍ لوبه کې د غوره لوبغاړي جایزه هم ترلاسه کړه.

په ۲۰۱۷ دسمبر میاشت کې د ۲۰۱۸ نولس کلنو نړیوال جام لپاره هم غوره شو او خپله لومړۍ شل اوریزه نړیواله لوبه یې د فبرورۍ په ۵مه، ۲۰۱۸ د زمبابوې پر وړاندې ترسره کړه. د فبرورۍ په ۱٦مه یې د زمبابوې پر وړاندې په شارجه کې په یوه لوبه کې پنځه ویکټې ترلاسه کړې او تر ټولو کم عمره لوبغاړی و چې دا کارنامه یې ترسره کړه، هغه په دغه لوبه کې د غوره لوبغاړي جایزه هم ترلاسه کړه.

د ۲۰۱۸ د مارچ په ۱۵مه د نړیوال جام غوراوي لوبو د Super Six راونډ په لومړۍ لوبه کې نوموړي د ویسټ انډیز پر وړاندې د ۳۳ منډو په ورکولو سره ۳ لوبغاړي وسوځول او همدا راز یو کېچ یې هم ونیوه، افغانستان بریا خپله کړه او مجیب الرحمن په دریم ځل یو ورځنیو لوبو کې د غوره لوبغاړي جایزه ترلاسه کړه.

د ایي سي سي نړیوال جام غوراوي پایلوبه کې افغانستان او ویسټ انډیز مخ شول چې مجیب الرحمن پکې د ۴۳ منډو په بدل کې ۴ لوبغاړي وسوځول او افغانستان اتلولي خپله کړه. په دغه سیالیو کې راشد خان، صفیان شریف او مجیب الرحمن ۱۷-۱۷ ویکټې ترلاسه کړې.

مجیب الرحمن د افغانستان په ګډون په سترو تجارتي لیګونو کې هم لوبېدلی دی او ښه لوبه یې ننداري ته وړاندې کړې ده.

اتلس کلن مجیب الرحمان د افغانستان لپاره په ۳۰ یو ورځنیو لوبو کې لوبېدلی دی او د ۲۰.۰۱ په اوسط یې ۵۱ ویکټې ترلاسه کړې دي، ښه توپ اچونه یې بیا د ۵۰ منډو په بدل کې ۵ لوبغاړي سوځول دي. همدا راز ۹ شل اوریزو لوبو کې لوبېدلی او د ۱۷.۰۰ په اوسط یې ۱۱ ویکټې ترلاسه کړې دي. په شل اوریزو لوبو کې یې ښه توپ اچونه د ۱۷ منډو په بدل کې ۳ لوبغاړي سوځول دي.

نوموړی د افغانستان ملي لوبډلې کم عمره او تکړه توپ اچوونکی دی چې هیله شته په نړیوال جام کې به ښه وځلېږي.

حمید حسن

۳۱ کلن حمید حسن چې د افغانستان تېز توپ اچوونکی دی او یو له هغه لوبغاړو څخه دی چې د افغانستان ملي لوبډله یې تر دې ځایه رارسولې ده. نوموړی یو وخت د افغانستان تر ټولو په زړه پورې توپ اچوونکی و خو په تېر نړیوال جام کې ټپي شو چې له هغه وروسته له لوبو وغورځېده.

د ۲۰۱۰ ايي سي سي نړیوال شل اوریز جام غوراوي لوبو کې حمید حسن د ۱۱.۱۴ په اوسط ۱۲ ویکټې ترلاسه کړې او د سیالیو زیاتې ویکټې اخیستونکی توپ اچوونکی شو او همدا راز افغانستان نړیوال شل اوریز جام ته لار پیدا کړه.

په نړیوال شل اوریز جام کې هم حمید حسن ښه لوبه ننداړې ته وړاندې کړه او د سویلي افریقا پر وړاندې یې د ۲۱ منډو په ورکولو سره درې لوبغاړي وسوځول.

د ۲۰۱۴ په دسمبر میاشت کې د متحده عربي اماراتو پر وړاندې په څلورمه یو ورځنۍ لوبه کې حمید حسن ښه توپ اچونه ترسره کړه چې د ۴۵ منډو په ورکولو سره یې ۵ لوبغاړي وسوځول.

په نړیوال جام کې که څه هم افغانستان یوازې د سکاټلنډ پر وړاندې یوه لوبه کې بریا خپله کړه خو حمید حسن پکې ښه لوبه ننداړې ته وړاندې کړه. نوموړي د بنګله دېش پر وړاندې ۲، د سریلانکا پر وړاندې ۳، د سکاټلنډ پر وړاندې ۱، د استرالیا پر وړاندې ۱ او د انګلستان پر وړاندې یې هم ۱ ویکټ ترلاسه کړه خو د نیوزیلنډ سره په لوبه کې یې هېڅ ویکټ په برخه نه شوه. نوموړي په نړیوال جام کې ټولې ۸ ویکټې ترلاسه کړې.

په یو ورځنیو لوبو کې حمید حسن د افغانستان څلورم توپ اچوونکی دی چې زیاتې ویکټې یې ترلاسه کړې، نوموړی له راشد خان، محمد نبي او دولت ځدراڼ وروسته څلورم لوبغاړی دی چې ۵۸ ویکټې یې ترلاسه کړې دي.

نړیوال جام ته له غوره کېدو مخکې حمید حسن خپله وروستۍ یو ورځنۍ لوبه په ۲۰۱٦ کې د ایرلنډ پر وړاندې ترسره کړې وه، د ۲۰۱٦ جولای په ۱۴مه د ایرلنډ سره په دریمه یو ورځنۍ لوبه کې حمید حسن د ۲۱ منډو په ورکولو سره ۲ لوبغاړي سوځولي و او تر هغه وروسته یې نړیواله لوبه نه وه ترسره کړې.

حمید حسن د افغانستان لپاره په ۳۳ یو ورځنیو لوبو کې لوبېدلی او د ۲۰.۸۲ په اوسط یې ۵۸ ویکټې ترلاسه کړې دي. د هغه اکانومي ۴.۵۹ ده او ښه توپ اچونه یې بیا د ۴۵ منډو په ورکولو سره ۵ لوبغاړي سوځول دي.

افتاب عالم

۲٦ کلن افتاب عالم د افغانستان بل میډیم فاسټ توپ اچوونکی دی چې د ایرلنډ پر وړاندې په څلورمه یو ورځنۍ لوبه کې ولوبېده او د ۲۵ منډو په بدل کې یې ۴ ویکټې ترلاسه کړې.

نوموړي د افغانستان لپاره په ۲۴ یو ورځنیو لوبو کې برخه اخیستې ده چې د ۲۴.۸۱ اوسط په درلودلو سره یې ۳۷ ویکټې ترلاسه کړې دي. اکانومي یې ۴.۸۴ ده او غوره توپ اچونه یې د ۲۵ منډو په بدل کې ۴ لوبغاړي سوځول دي.

هغه په ۱۲ شل اوریزو لوبو کې هم ګډون کړی دی چې ۱۱ لوبغاړي یې سوځولي دي.

لس زره یا تر لس زره ډېرې منډې

د هندي لوبډلې يو تر ټولو مخکښ توپوهونکی سچن ټنډولکر دی، هغه نه يوازې دا چې لومړنی توپوهونکی و چې لس زره منډې يې پوره کړې، بلکې هغه په يو ورځنيو لوبو کې تر ټولو زياتې سليزې هم وهلې دي چې تر دې مهاله يې دغه ريکارډ چا نه دی مات کړی. همدا راز نوموړی په کرکټ کې د تر ټولو د زياتو منډو ريکارډ هم لري. هغه د هندي لوبډلې پخوانی لوبډلمشر هم پاتې شوی دی.

ټنډولکر په ۱۹۷۳ کې زېږېدلی او په ۱۹۸۹ کې يې لومړۍ يو ورځنۍ لوبه ترسره کړې ده، هغه لس زره منډې په ۲۰۰۱ کال کې د مارچ په ۳۱مه نېټه د اسټراليا پر وړاندې په لوبه کې پوره کړې چې په دغه لوبه کې نوموړي ۱۳۹ منډې کړې وې.

نوموړي لس زره منډې په ۲۵۹ لوبو کې پوره کړې او لومړنی لوبغاړی و چې د لس زره منډو هدف يې پوره کړ.

ټنډولکر په يو ورځنيو لوبو کې تر ټولو زياتې منډې هم کړې دي، هغه په ۴۶۳ لوبو کې ۱۸۴۲۶ منډې کړې دي، چې ۴۹ سليزې او ۹۶ پنځوسيزې لري. نوموړي په ۲۰۱۲ کال کې له يو ورځني نړيوال کرکټ سره مخه ښه وکړه.

سچن ټنډولکر

د هندي لوبډلې يو تر ټولو مخکښ توپوهونکی سچن ټنډولکر دی، هغه نه يوازې دا چې لومړنی توپوهونکی و چې لس زره منډې يې پوره کړې، بلکې هغه په يو ورځنيو لوبو کې تر ټولو زياتې سليزې هم وهلې دي چې تر دې مهاله يې دغه ريکارډ چا نه دی مات کړی. همدا راز نوموړی په کرکټ کې د تر ټولو د زياتو منډو ريکارډ هم لري. هغه د هندي لوبډلې پخوانی لوبډلمشر هم پاتې شوی دی.

ټنډولکر په ۱۹۷۳ کې زېږېدلی او په ۱۹۸۹ کې يې لومړۍ يو ورځنۍ لوبه ترسره کړې ده، هغه لس زره منډې په ۲۰۰۱ کال کې د مارچ په ۳۱مه نېټه د اسټراليا پر وړاندې په لوبه کې پوره کړې چې په دغه لوبه کې نوموړي ۱۳۹ منډې کړې وې.

نوموړي لس زره منډې په ۲۵۹ لوبو کې پوره کړې او لومړنی لوبغاړی و چې د لس زره منډو هدف يې پوره کړ.

ټنډولکر په يو ورځنيو لوبو کې تر ټولو زياتې منډې هم کړې دي، هغه په ۴۶۳ لوبو کې ۱۸۴۲۶ منډې کړې دي، چې ۴۹ سليزې او ۹۶ پنځوسيزې لري.

نوموړي په ۲۰۱۲ کال کې له يو ورځني نړيوال کرکټ سره مخه ښه وکړه.

کمار سنګاکارا

د سريلانکا لوبډلې پخوانی لوبډلمشر چپ لاسی توپوهونکی او ويکټ ساتونکی کمار سنګاکارا دويم هغه توپوهونکی دی چې په يو ورځنيو لوبو کې يې تر ټولو زياتې منډې کړې دي. هغه يو له مخکښو توپوهوونکو څخه و چې د سريلانکايي لوبډلې لپاره يې سترې لاسته راوړنې درلودې.

سنګاکارا چې په ۱۹۷۷ کې زېږېدلی او په ۲۰۰۰ کې يې خپله لومړۍ لوبه ترسره کړې ده، خپلې لس زره منډې يې په ۲۰۱۲ کې د فبرورۍ په ۱۷مه د اسټراليا پر وړاندې پوره کړې، نوموړي په دغه لوبه کې ۳۰ منډې کړې وې.

هغه لس زره منډې په ۲۹۶ لوبو کې پوره کړې.

سنګاکارا د سريلانکا لپاره ۴۰۴ لوبې کړي دي، چې ۲۵ سليزې او ۹۳ پنځوسيزو په مټ يې ۱۴۲۳۴ منډې کړي دي. نوموړي خپله وروستۍ لوبه په ۲۰۱۵ کې وکړه او کرکټ يې پرېښود.

رکي پونټينګ

د اسټراليا پخوانی لوبډلمشر او ښي لاسی توپوهونکی رکي پونټينګ هغه لوبغاړی دی چې د اسټراليا لپاره يې په خپله لوبډلمشرۍ کې د ۲۰۰۳ او ۲۰۰۷ نړيوال جامونه هم ګټلي دي. نوموړی دريم هغه لوبغاړی دی چې په يو ورځنيو لوبو کې يې زياتې منډې کړي دي.

پونټينګ په ۱۹۷۴ کې زېږېدلی او خپله لومړۍ لوبه يې په ۱۹۹۵ کې ترسره کړې ده، خپلې لس زره منډې يې په ۲۰۰۷ کې د مارچ په ۲۴مه نېټه د سويلي افريقا پر وړاندې پوره کړې. هغه په دغه لوبه کې ۹۱ منډې کړې وې.

نوموړي لس زره منډې په ۲۶۶ لوبو کې پوره کړې.

پونټينګ د اسټراليا لپاره ۳۷۵ لوبې کړي دي، ۳۰ سليزې او ۸۲ پنځوسيزې يې وهلي او ۱۳۷۰۴ منډې يې کړي. هغه په ۲۰۱۲ کال کې له کرکټ سره خدای په اماني وکړه.

سانت جی سوريا

سانت جی سوريا د سريلانکا يو بل ډېر مخکښ او تکړه توپوهونکی و، هغه د خپلې لوبډلې لوبډلمشر هم پاتې شوی و، الراونډر و خو د پيل توپوهونکی هم و چې ډېرې لوبې يې د خپلې لوبډلې لپاره گټلې دي.
هغه څلورم لوبغاړی دی چې په يو ورځنيو لوبو کې يې زياتې منډې کړې دي.
جی سوريا په ۱۹٦۹م کال کې زېږېدلی او خپله لومړۍ لوبه يې په ۱۹۸۹ کې تر سره کړې ده، هغه خپلې لس زره منډې په ۲۰۰۵ کې د اگست په ۹مه نېټه د هند په وړاندې بشپړې کړې. په دغه لوبه کې نوموړي ٦۷ منډې کړې وې.
نوموړي لس زره منډې په ۳۲۸ لوبو کې پوره کړې دي.
جی سوريا د خپل هېواد لپاره ۴۴۵ لوبې کړې دي چې ۲۸ سلېزې او ٦۸ پنځوسيزې يې وهلې او ۱۳۴۳۰ منډې يې کړې دي. نوموړي په ۲۰۱۱ کې له نړيوال کرکټ سره مخه ښه وکړه.

مهيلا جی وردنی

مهيلا جی وردنې يو بل د سريلانکا هغه لوبغاړی دی چې په يو ورځنيو لوبو کې ډېر ښه ځلېدلی دی او خپلې لوبډلې ته يې وياړونه راوړي دي. هغه پنځم توپوهونکی دی چې په يو ورځنيو لوبو کې يې زياتې منډې کړې. نوموړی ښي لاسی توپوهونکی دی.
مهيلا جی وردنی په ۱۹۷۷ کې زېږېدلی او په يو ورځنيو لوبو کې يې خپله لومړۍ لوبه په ۱۹۹۸ کې ترسره کړې ده، هغه خپلې لس زره منډې په ۲۰۱۱ کې د نومبر په ۱۸مه نېټه د پاکستان په وړاندې پوره کړې. په دغه لوبه کې نوموړي ۱۷ منډې کړې وې.
نوموړي لس زره منډې په ۳۳۳ لوبو کې پوره کړې دي چې ده په تر ټولو ډېرو لوبو کې د لس زره منډو هدف ته ځان رسولی دی.
مهيلا جی وردنې د خپل هېواد لپاره ۴۴۸ لوبې ترسره کړې دي چې ۱۹ سلېزې او ۷۷ پنځوسيزې يې وهلې او ۱۲٦۵۰ منډې يې کړې دي. هغه نړيوال کرکټ سره په ۲۰۱۵ کې مخه ښه وکړه.

انضمام الحق

د پاکستان پخوانی لوبډلمشر او ښي لاسی توپوهونکی انضمام الحق د پاکستان يوازينی توپوهونکی دی چې په يو ورځنيو لوبو کې يې تر ټولو زياتې منډې کړې دي، نوموړی په نړيواله کچه ٦هم لوبغاړی دی چې په يو ورځنيو لوبو کې يې ډېرې منډې کړې دي.
انضمام الحق په ۱۹۷۰ کې زېږېدلی او لومړۍ لوبه يې بيا په ۱۹۹۱ کې ترسره کړې ده. هغه خپلې لس زره منډې په ۲۰۰۴ کې د سپټمبر په ۱۹مه نېټه د هند پر وړاندې پوره کړې. په دغه لوبه کې نوموړي ۴۱ منډې کړې وې.
نوموړي لس زره منډې په ۲۹۹ لوبو کې پوره کړې دي.
انضمام الحق د پاکستان لپاره ۳۷۸ لوبې کړې دي چې ۱۰ سلېزې او ۸۳ پنځوسيزې يې وهلې او ۱۱۷۳۹ منډې يې ترلاسه کړې دي. په ۲۰۰۷ نړيوال جام کې چې نوموړی د پاکستان لوبډلمشر و او له نړيوال جام څخه په لومړي پړاو کې بهر شو نو هغه هم له نړيوال کرکټ نه استعفا وکړه.

ژاک کيلس

د سويلي افريقا ژاک کېلس هم يو له هغه لوبغاړو څخه دی چې په توپوهنه او توپ اچوونه دواړو برخو کې يې ستري لاسته راوړنې درلودې. نوموړی د سويلي افريقا يوازينی لوبغاړی دی چې په يو ورځنيو لوبو کې تر ټولو زياتې منډې کړې دي، هغه په نړيواله کچه ۷ لوبغاړی دی چې زياتې منډې لري.
ژاک کېلس په ۱۹۷۵ کې زېږېدلی او خپله لومړۍ يو ورځنۍ لوبه يې په ۱۹۹٦ کې ترسره کړې ده. هغه د خپلې لوبډلې لوبډلمشر هم پاتې شوی او الراونډر و.
نوموړي خپلې لس زره منډې په ۲۰۰۹ کې د جنورۍ په ۲۳مه نېټه د استراليا پر وړاندې پوره کړې. په دغه لوبه کې هغه ٦۰ منډې کړې وې. کېلس خپلې لس زره منډې په ۲۷۲ لوبو کې پوره کړې دي.
ژاک کېلس د سويلي افريقا لپاره ۳۲۸ لوبې کړې چې ۱۷ سلېزې او ۸٦ پنځوسيزې يې وهلې، هغه ۱۱۵۷۹ منډې کړې دي او په ۲۰۱۴ کې يې له کرکټ سره مخه ښه وکړه.

سارو گنگولي

د هند يو بل مخکښ توپوهونکی او د هندۍ لوبډلې پخوانی لوبډلمشر سارو گنگولي د کرکټ يو ليجينډ توپوهونکی و، هغه په ښي لاس توپوهنه کوله او په نړيواله کچه دريم لوبغاړی و چې يو ورځنيو لوبو کې يې لس زره منډې پوره کړې، همدا راز په نړيواله کچه اتم او په هند کې دويم لوبغاړی دی چې زياتې منډې لري.
هغه ته به په خپله لوبډله کې ټولو (دادا) ويل، په بنگالۍ ژبه کې د (دادا) معنا (مشر) ورور دی.
سارو گنگولي په ۱۹۷۲ کې زېږېدلی او خپله لومړۍ لوبه يې په ۱۹۹۲ کې ترسره کړې ده، هغه خپلې لس زره منډې په ۲۰۰۵ کې د اگست په ۳مه نېټه د سريلانکا پر وړاندې پوره کړې. په دغه لوبه کې هغه ۵۱ منډې کړې وې.
نوموړي لس زره منډې په ۲٦۳ لوبو کې پوره کړې. دريم لوبغاړی دی چې په لږو لوبو کې يې دغه هدف پوره کړی دی.
سارو گنگولي د هند لپاره ۳۱۱ لوبې کړې دي چې ۲۲ سلېزې او ۷۲ پنځوسيزې يې وهلې، هغه ۱۱۳٦۳ منډې کړې او په ۲۰۰۷ کال کې يې له کرکټ سره مخه ښه کړې ده.

ويراټ کوهلي

د هندۍ لوبډلې اوسنی لوبډلمشر او د يو ورځنيو لوبو تر ټولو غوره توپوهونکی ويرات کوهلي د هند دريم او په نړيواله کچه نهم توپوهونکی دی چې زياتې منډې يې کړې دي. هغه يو ډېر ښه توپوهونکی دی او له سچن ټنډولکر وروسته دويم لوبغاړی دی چې زياتې سلېزې يې هم وهلې دي، نوموړی هغه توپوهونکی دی چې له نورو يې په لږ وخت کې لس زره منډې پوره کړې دي.
ويرات کوهلي په ۱۹۸۸ کې زېږېدلی او په ۲۰۰۸ کې يې خپله لومړۍ لوبه ترسره کړې ده، هغه خپلې لس زره منډې په ۲۰۱۸ کې د اکتوبر په ۲۴مه نېټه د ويسټ انډيز پر وړاندې پوره کړې. په دغه لوبه کې نوموړي ۱۵۷ منډې وکړې او ناسوځېدلی پاتې شو.
نوموړي لس زره منډې په ۲۰۵ لوبو کې پوره کړې، چې لومړی توپوهونکی دی چې په لږو لوبو کې يې دغه هدف ته ځان ورساوه.
ويرات کوهلي د هند لپاره تر دې مهاله پورې ۲۳۰ لوبې کړې دي چې ۴۱ سلېزې او ۵۱ پنځوسيزې يې وهلې او ۱۱۰۲۰ منډې يې کړې دي.
هغه اوسمهال هم د هند يو تر ټولو مخکښ توپوهونکی دی او د هندۍ لوبډلې لوبډلمشري هم پر غاړه لري.

راهــــول ډریــــویډ

د هند لوبډلې پخوانی لوبډلمشر او مخکښ توپوهونکی راهول ډریویډ هم د کرکټ یو ستر توپوهونکی و چې په خپل مهال یې ډېرې ریکارډونه جوړ کړي و، هغه اوسمهال په نړیواله کچه لسم او په هند کې څلورم توپوهونکی دی چې زیاتې منډې لري. هغه ښي لاسی توپوهونکی و.

راهول ډریویډ په ۱۹۷۳ کې زېږېدلی او ۱۹۹۶ کې یې خپله لومړۍ لوبه ترسره کړې وه. هغه خپلې لس زره منډې په ۲۰۰۷ کې د فبرورۍ په ۱۴مه نېټه د سریلانکا په وړاندې پوره کړې. په دغه لوبه کې هغه ٦٦ منډې وکړې.

نومړي لس زره منډې په ۲۸۷ لوبو کې پوره کړې دي.

راهول ډریویډ د هند لپاره ۳۴۴ لوبې کړې چې ۱۲ سلیزې او ۸۳ پنځوسیزې یې وهلې او همدا راز ۱۰۸۸۹ منډې یې کړې دي. نومړي په ۲۰۱۱ کې له یو ورځنیو لوبو سره مخه ښه وکړه.

ایــم ایــس دهــــوني

د هند مخکښ ښي لاسی توپوهونکی او ویکټ ساتونکی مهیندرا سنګ ډهوني یو له هغه لوبغاړو څخه دی چې د لوبې د ګټونکي توپوهونکي په سترګه ورته کتل کېږي. هغه نه یوازې دا چې یو ښه ویکټ ساتونکی دی، همدا راز یو تېز او مخکښ توپوهونکی هم دی. نومړی د ۲۰۰۷ نه تر ۲۰۱٦ پورې د یو ورځنیو لوبو لوبډلمشر و او په دغه موده کې نومړي د ۲۰۰۷ نړیوال شل اوریز جام، په ۲۰۱۰ او ۲۰۱٦ کې د اسیا جام، ۲۰۱۱ کې د کرکټ نړیوال جام او ۲۰۱۳ کې په چیمپینز ټرافۍ کې هند اتلولۍ ته ورساوه.

ډهوني په ۱۹۸۱ کې زېږېدلی او خپله لومړۍ یو ورځنۍ لوبه یې په ۲۰۰۴ کې ترسره کړې ده، هغه خپلې لس زره منډې په ۲۰۱۸ کې د جولایي په ۱۴مه نېټه د انګلستان په وړاندې پوره کړې. په دغه لوبه کې نومړي ۳۷ منډې وکړې.

نومړي د لس زره منډو هدف په ۲۷۳ لوبو کې پوره کړ.

مهیندرا سنګ ډهوني د هند لپاره ۳۴۳ لوبې کړې چې ۱۰ سلیزې او ۷۱ پنځوسیزې یې وهلې، هغه په نړیواله کچه دریم ویکټ ساتونکی دی چې ۴۳٦ کسان یې سوځولي دي چې ۳۱۵ یې کېچ کړي او ۱۲۱ یې سټمپ سوځولي دي. نومړي په یو ورځنیو لوبو کې ۱۰۵٦۱ منډې کړې او یوولسم لوبغاړی دی چې زیاتې منډې یې کړې، هغه اوسمهال هم په هندۍ لوبډله کې لوبېږي.

بـــــــرایــــن لارا

د ویسټ انډیز مخکښ چپ لاسی توپوهونکی براین لارا د ویسټ انډیز لومړنی توپوهونکی و چې د لس زره منډو هدف یې پوره کړ. هغه یو له نامتو توپوهوونکو څخه و چې د ټېسټ لوبو په یوه پاڼۍ کې یې تر ټولو زیاتې ۴۰۰ ناسوځېدلې منډې هم کړي دي، هغه نور هم ډېر ریکارډونه جوړ کړي، خو په نړیواله کچه ۱۲م لوبغاړی دی چې په یو ورځنیو لوبو کې زیاتې منډې لري.

براین لارا په ۱۹٦۹ کې زېږېدلی او خپله لومړۍ یو ورځنۍ لوبه یې په ۱۹۹۰ کې ترسره کړې ده، هغه خپلې لس زره منډې په ۲۰۰٦ کې د دسمبر په ۱٦مه د پاکستان په وړاندې پوره کړې. په دغه لوبه کې هغه ۴۴ منډې کړې وې.

نومړي لس زره منډې په ۲۷۸ لوبو کې پوره کړي دي.

براین لارا د ویسټ انډیز لپاره ۲۹۹ لوبې ترسره کړي، چې ۱۹ سلیزې او ٦۳ پنځوسیزې یې وهلي دي، هغه ۱۰۴۰۵ منډې کړي او په ۲۰۰۷ کې یې له کرکټ سره مخه ښه کړې ده.

تلـــکـــرتنی دلشــان

د سریلانکایي لوبډلې پخوانی لوبډلمشر او د پیل ښي لاسی توپوهونکی تلکرتنې دلشان هم یو له نامتو توپوهوونکو څخه دی. هغه څلورم سریلانکایي او په نړیواله کچه ۱۳م توپوهونکی دی چې زیاتې منډې یې کړې دي.

دلشان په ۱۹۷٦ کې زېږېدلی او خپله لومړۍ یو ورځنۍ لوبه یې په ۱۹۹۹ کې لوبولې ده، هغه خپلې لس زره منډې په ۲۰۱۵ کې د جولایي په ۲٦مه نېټه د پاکستان پر وړاندې پوره کړې. هغه په دغه لوبه کې ٦۲ منډې وکړې.

تلکرتنی دلشان د سریلانکا لپاره ۳۳۰ منډې کړي، چې ۲۲ سلیزې او ۴۷ پنځوسیزې یې وهلي دي او همدا راز نومړي ۱۰۲۹۰ منډې کړي دي.
هغه په ۲۰۱۵ کې له کرکټ سره خدای په اماني وکړه.

کـــــریس ګـــیل

د ویسټ انډیز چټک او تېز چپ لاسی توپوهونکی کریس ګیل یو له هغه توپوهوونکو څخه دی چې د شپږیزو لپاره پېژندل کېږي، نومړی په ټېسټ سیالیو کې د ویسټ انډیز لوبډلمشر هم پاتې شوی او په شل اوریزو لوبو کې هم یو مخکښ توپوهونکی دی. هغه همدا راز په نړیوال جامونو کې تر ټولو زیاتې شپږیزې هم وهلي، په یو ورځنیو لوبو کې بیا تر شاهد اپریدي وروسته دویم توپوهونکی دی چې ۳۱۸ شپږیزې یې وهلي او نور ډېر ریکارډونه هم په خپل نوم لري. نومړی د ویسټ انډیز دویم او په نړیواله کچه ۱۴م یا تر دې مهاله پورې وروستی توپوهونکی دی چې یو ورځنیو لوبو کې یې له لس زرو زیاتې منډې کړي دي.

کریس ګیل په ۱۹۷۹ کې زېږېدلی او خپله لومړۍ یو ورځنۍ لوبه یې په ۱۹۹۹ کې لوبولې ده، هغه خپلې لس زره منډې په روان کال کې د فبرورۍ په ۲۷مه نېټه د انګلستان پر وړاندې پوره کړې. په دغه لوبه کې هغه ۱٦۲ منډې کړې وې.

کریس ګیل د ویسټ انډیز لپاره ۲۸۹ یو ورځنۍ لوبې کړي، چې ۲۵ سلیزې او ۵۱ پنځوسیزې یې وهلي، هغه تر دې مهاله پورې ۱۰۱۵۱ منډې کړي دي.

ICC CRICKET WORLD CUP 2019
THE WORLD'S GREATEST CRICKET CELEBRATION
#CWC19
ENGLAND & WALES 2019

د نړیوال جام تاریخ

...د تېر په دوام

استرالیا
۲۰۰۷ کال جام گټونکی

د کرکټ نهم نړیوال جام چې په ۲۰۰۷ کال کې د ۱۳ مارچ څخه تر ۲۸ اپریل پورې په ویسټ انډیز کې ترسره شو چې دا ځل پکې تر ټولو زیاتې ۱٦ لوبډلو گډون وکړ خو لوبې یې بیا د تېر نړیوال جام څخه درې کمې وې، دا ځل ټولې ۵۱ لوبې ترسره شوې.

د لس بشپړ غړیتوب درلودونکو تر څنگ شپږ لوبډلې نورې وې چې دویمه درجه دریځ یې درلود خو ځینو پکې د یو ورځنیو لوبو دریځ خپل کړی و او ځینې بیا د ایي سي سي ټرافی څخه نړیوال جام ته لار پیدا کړه. ایرلنډ او برمودا بیا په لومړي ځل په نړیوال جام کې گډون وکړ.

په دې نړیوال جام کې استرالیا، بنگله دېش، انگلستان، هند، نیوزیلنډ، پاکستان، ساوت افریقا، سریلانکا، ویسټ انډیز، زمبابوې، برمودا، کاناډا، کینیا، ایرلنډ، نیدرلنډز او سکاټلنډ گډون درلود.

ټولې ۱٦ لوبډلې په څلور گروپونو ویشل شوې وې چې په هر گروپ کې دوه غوره لوبډلو بیا بل پړاو (Super 8) ته لار پیدا کړه او له Super 8 څخه بیا څلور لوبډلې نیمه پایلوبې ته لاړې.

د هند او پاکستان لوبډلې په لومړي پړاو کې له نړیوال جام بهر شوې او په Super 8 کې بیا استرالیا، سریلانکا، نیوزیلنډ او ساوت افریقا غوره لوبډلې شوې او نیمه پایلوبو ته یې لار ومونده.

په نیمه پایلوبو کې سریلانکا له نیوزیلنډ سره او استرالیا له سویلي افریقا سره ولوبېدل چې پایلوبې ته پکې سریلانکا او استرالیا لار پېدا کړه.

پایلوبه د استرالیا او سریلانکا ترمنځ د بارباډوس په بریج ټاون کې د اپریل په ۲۸مه نېټه ترسره شوه، د لوبې پچه استرالیا وگټله او لومړی یې د توپوهنې پرېکړه وکړه.

استرالیا په ټاکلو ۵۰ اورونو کې د ۴ لوبغاړو په سوځېدو سره ۲۸۱ منډې وکړې چې ایډم گلکرسټ په یوازې ځان ۱۴۹ منډې وکړې. استرالیا د سریلانکا لوبډلې ته ۲۸۲ منډې هدف وټاکه خو په لوبه کې د باران له امله سریلانکا ته په ۳٦ اورونو کې د ۲٦۹ منډو هدف وټاکل شو.

سریلانکا په ۳٦ اورونو کې د ۸ لوبغاړو په سوځېدو سره ۲۱۵ منډې وکړې او د (D/L Method) له لارې استرالیا په ۵۳ منډو پرلپسې دریم ځل او په عمومي ډول څلورم ځل په نړیوال جام کې اتلولي خپله کړه.

په نړیوال جامونو کې د استرالیا د پرلپسې لوبو گټلو ریکارډ هم ۲۹ لوبو ته ورسېد، چې د نړیوال جامونو په ۲۹ لوبو کې یې هېڅ لوبه نه وه بایللې.

د پایلوبې د غوره لوبغاړي جایزه ایډم گلکرسټ ته ورکړل شوه او د نړیوال جام د غوره لوبغاړي جایزه بیا د استرالیا گلین مکگرات ته ورکړل شوه.

په نړیوال جام کې زیاتې ٦۵۹ منډې د استرالیا میتیو هیډن وکړې، همدا راز په یوه لوبه کې د پاکستان عمران نذیر تر ټولو زیاتې ۱٦۰ منډې د زمبابوې پر وړاندې وکړې.

د توپ اچونې په برخه کې بیا د استرالیا گلین مکگرات ۲٦ ویکټې واخیستې او په یوه لوبه کې ښه توپ اچونه بیا د ساوت افریقا انډریو هال وکړه، نوموړي د انگلستان پر وړاندې په یوه لوبه کې د ۱۸ منډو په بدل کې ۵ لوبغاړي وسوځول.

که په دغه نړیوال جام کې د ریکارډونو خبره وشي نو د ساوت افریقا هرشل گبز د نیدرلنډز پر وړاندې په یو اور کې ٦ شپږیزې ووهلې او د پاکستان عمران نذیر او د استرالیا ایډم گلکرسټ بیا په یوه یوه لوبه کې اته اته شپږیزې ووهلې، په نړیوال جام کې بیا زیاتې ۲۹ شپږیزې میتیو هیډین ووهلې. همدا راز په ۲۱ توپونو باندې مارک باوچر پنځوسیزه ووهله چې ورپسې برینډن مککالم په ۲۰ توپونو تېره پنځوسیزه ووهله، تېزه سلیزه چې په ٦٦ توپونو ووهل شوه د میتیو هیډن له خوا وه او په ستر توپیر ۲۵۷ منډو بیا هند د برمودا لوبډلې ته ماته ورکړه او د یوې لوبډلې له خوا زیات هدف بیا د ۴۱۳ منډې و چې د برمودا پر وړاندې یې ترسره کړ.

د سریلانکا لاسیت ملینگا بیا په لومړي ځل په نړیوال جام کې په پرلپسې ۴ توپونو ۴ لوبغاړي وسوځول او دا ریکارډ یې په خپل نوم کړ او په ټولو نړیوال جامونو کې د زیاتو ۷۱ ویکټو ریکارډ بیا گلین مکگرات په خپل نوم کړ.

همدا راز په دغه نړیوال جام کې د پاکستان ملي لوبډلې روزونکی باب وولمر د مارچ په ۱۸مه نېټه د پاکستان او ایرلنډ له لوبې وروسته مړ وموندل شو.

هندوستان
۲۰۱۱ کال جام گټونکی

د ۲۰۱۱ نړیوال جام چې په هند، سریلانکا او بنګله دېش کې د ۱۹ فبرورۍ نه تر ۲ اپریل پورې ترسره شو دا ځل پکې ۱۴ لوبډلو د پایلوبې او نیمه پایلوبو په ګډون ۴۹ لوبې ترسره کړې.

دا نړیوال جام د یادو درې هېوادونو په ګډون په پاکستان کې هم ترسره کېده خو په ۲۰۰۹ کال کې د پاکستان په لاهور ښار کې د سریلانکا په ملي لوبډلې له برید وروسته ایي سي سي له پاکستان څخه کوربتوب بېرته واخیست او کومې لوبې چې په پاکستان کې ترسره کېدې، هغه یې په نورو درې هېوادونو ووېشلې، همدا راز لومړی ځل و چې بنګله دېش هېواد هم د نړیوال جام کوربتوب کاوه.

لس لوبډلې استرالیا، هند، پاکستان، ساوت افریقا، نیوزیلنډ، انګلستان، سریلانکا، ویسټ انډیز، زمبابوې او بنګله دېش چې بشپړ غړیتوب یې درلود په نړیوال جام کې ګډون کاوه او همدا راز څلور اسوسیټېډ لوبډلې کاناډا، ایرلنډ، کینیا او نیدرلنډز لوبډلو د ایي سي سي نړیوال جام غوراوي سیالیو څخه نړیوال جام ته لار پیدا کړه.

دا ځل ۱۴ لوبډلې په دوه ګروپونو ووېشل شوې چې په هر ګروپ کې ۷-۷ لوبډلې وې او له هر ګروپ څخه څلور غوره لوبډلو کوارټر فاینل ته لار پېدا کړه، په کوارټر فاینل کې بیا له اته لوبډلو څخه څلور لوبډلو نیمه پایلوبو ته لار پېدا کړه، په نیمه پایلوبو کې پاکستان او هند او نیوزیلنډ او سریلانکا په خپل منځ کې لوبې وکړې او پایلوبې ته بیا د هند او سریلانکا لوبډلو لار پېدا کړه.

دا لومړی ځل و چې دوه اسیایي لوبډلې پایلوبې ته لاړې او همدا راز تر ۱۹۹۲ دېخوا لومړی نړیوال جام و چې استرالیا پکې پایلوبې ته لار پیدا نه کړه.

پایلوبه د سریلانکا او هند ترمنځ د هند په ممبۍ کې د اپریل په ۲مه نېټه ترسره شوه، د لوبې پچه سریلانکا وګټله او د توپوهنې پرېکړه یې وکړه.

سریلانکا په ټاکلو ۵۰ اورونو کې د ٦ لوبغاړو په سوځېدو سره ۲۷۴ منډې وکړې چې مهیلا جی وردنی پکې ۱۰۳ ناسوځېدلې منډې وکړې.

یاد هدف هند د ۴ ویکټو په تاوان په ۴۸.۲ اورونو کې پوره کړ او هند په دویم ځل د نړیوال جام اتلولي خپله کړه.

ګوتم ګمبیر ۹۷ او مهیندرا سنګ دهوني ۹۱ ناسوځېدلې منډې وکړې.

هند د سریلانکا لوبډلې ته په ٦ ویکټو ماته ورکړه او په دویم ځل د نړیوال جام اتله شوه. همدا راز هند لومړنی هېواد و چې په خپل هېواد کې یې نړیوال جام کې اتلولي خپله کړه.

د پایلوبې د غوره لوبغاړي جایزه مهیندرا سنګ دهوني او د نړیوال جام د غوره لوبغاړي جایزه بیا یوراج سنګ ته ورکړل شوه.

په ۲۰۱۱ نړیوال جام کې تر ټولو زیاتې ۵۰۰ منډې د سریلانکا تلکرتنی دلشان وکړې او په یوه لوبه کې بیا ډېرې منډې د هند ویریندر سهواګ وکړې، نوموړي د بنګله دېش پر وړاندې ۱۷۵ منډې وکړې.

تر ټولو زیاتې ۱۴ شپږیزې د نیوزیلنډ روز ټېلر ووهلې او ٦۱ څلوریزې بیا د سریلانکا تلکرتنی دلشان ووهلې.

د پاکستان شاهد اپریدي او د هند ظهیر خان بیا تر نورو زیاتې ویکټې واخیستې، دواړو ۲۱ – ۲۱ ویکټې ترلاسه کړې او په یوه لوبه کې ښه توپ اچونه بیا د ویسټ انډیز کیمار روچ ترسره کړه، نوموړي د نیدرلنډز پر وړاندې د ۲۷ منډو په ورکولو سره ٦ لوبغاړي وسوځول.

دا ځل کیمار روچ د نیدرلنډز پر وړاندې او لاسیت ملینګا د کینیا پر وړاندې هېټریک هم ترسره کړل.

استرالیا
۲۰۱۵ کال جام گټونکی

د ۲۰۱۵ نړیوال جام یو ځل بیا په استرالیا او نیوزیلنډ کې ترسره شو، د ۱۴ لوبډلو ترمنځ ۴۹ لوبې د ۱۴ فبروري نه تر ۲۹ مارچ پورې ترسره شوې.

لس لوبډلې چې بشپړ غړیتوب یې درلود، له هغوی پرته دوه لوبډلو (ایرلنډ او افغانستان) د ۲۰۱۱-۱۳ ایي سي سي نړیوال کرکټ لیګ چیمپینشپ څخه نړیوال جام ته لار پېدا کړه او دوه لوبډلو د ۲۰۱۴ ایي سي سي نړیوال جام غوراوي سیالیو څخه لار پېدا کړه.

دا لومړی ځل و چې افغانستان په نړیوال جام کې ګډون درلود.

په ۲۰۱۵ نړیوال جام کې د افغانستان لوبډلې شپاړس کسیز نوملړ په لاندې ډول و:

محمد نبي (لوبډلمشر)، افسر ځاځی (ویکټ کیپر)، افتاب عالم، اصغر افغان، دولت ځدراڼ، ګلبدین نایب، حمید حسن، جاوېد احمدي، نجیب الله ځدراڼ، ناصر جمال، نوروز منګل، سمیع الله شینواری، شفیق الله شفق، شاپور ځدراڼ، عثمان غني او میرویس اشرف.

دا ځل هم د تېر په څېر ۱۴ لوبډلې په دوه ګروپونو ووېشل شوې چې له هر ګروپ څخه څلور غوره لوبډلې کوارټر فاینل ته لاړې، له کوارټر فاینل څخه بیا څلور غوره لوبډلې نیمه پایلوبو ته لار پېدا کړه.

افغانستان په اې ګروپ کې د بنګله دېش، سریلانکا، سکاټلنډ، استرالیا، نیوزیلنډ او انګلستان سره لوبې وکړې چې له دوی یې یوازې سکاټلنډ ته په ۱ ویکټ ماته ورکړه او په نړیوال جام کې یې یوه لوبه وګټله چې سمیع الله شینواري ته پکې د غوره لوبغاړي جایزه ورکړل شوه.

په نیمه پایلوبو کې ساوت افریقا او نیوزیلنډ او استرالیا او هند ولوبېدل چې نیوزیلنډ او استرالیا پایلوبې ته لار پېدا کړه.

پایلوبه د نیوزیلنډ او استرالیا ترمنځ په میلبورن کرکټ لوبغالي کې د مارچ په ۲۹مه نېټه ترسره شوه، د لوبې پچه نیوزیلنډ وګټله او په خپله یې د توپوهنې پرېکړه وکړه.

نیوزیلنډ په ۴۵ اورونو کې د ټولو لوبغاړو په سوځېدو ۱۸۳ منډې وکړې چې ګرانټ ایلیټ ۸۳ او روز ټېلر ۴۰ منډې وکړې.

یاد هدف استرالیا په ۳۳.۱ اورونو کې د ۳ لوبغاړو په تاوان پوره کړ او د پنځم ځل لپاره یې د نړیوال جام اتلولي خپله کړه.

مچل کلارک ۷۴ او ستیو سمت ۵٦ ناسوځېدلې منډې وکړې او استرالیا په پایلوبه کې نیوزیلنډ ته په ۷ ویکټو ماته ورکړه او داسې یې په پنځم ځل د نړیوال جام اتلولي خپله کړه.

د پایلوبې د غوره لوبغاړي جایزه جېمز فاکنر ته ورکړل شوه چې د نیوزیلنډ ۳ لوبغاړي یې سوځولي او د نړیوال جام د غوره لوبغاړي جایزه د استرالیا مچل سټارک ته ورکړل شوه.

د توپوهونکو په برخه کې د نیوزیلنډ مارټن ګپټیل تر نورو زیاتې ۵۴۷ منډې وکړې او په یوه لوبه کې ښه توپ اچونه هم مارټن وکړه، نوموړي د ویسټ انډیز پر وړاندې د ۲۳۷ منډو ناسوځېدلې لوبه وکړه او کرس ګیل بیا د زمبابوې پر وړاندې په یوه لوبه کې ۲۱۵ منډې وکړې.

تر ټولو زیاتې ۲٦ شپږیزې کرس ګیل ووهلې او ۵۹ څلوریزې بیا مارټن ګپټیل ووهلې.

د استرالیا مچل سټارک او د نیوزیلنډ ټرینټ بولټ ۲۲-۲۲ ویکټې واخیستې، مچل ۸ او بولټ ۹ لوبې لوبولې وې. په یوه لوبه کې بیا ښه توپ اچونه د نیوزیلنډ ټیم ساوتي ترسره کړه، نوموړي د انګلستان پر وړاندې په ۳۳ منډو ورکولو سره ۷ لوبغاړي وسوځول.

دا ځل د انګلستان سټیوین فین او د ساوت افریقا جی پي ډومیني هېټریک ترسره کړل. فین د استرالیا او ډومیني د سریلانکا پر وړاندې هېټریکونه وکړل.

RASHID KHAN, T20 CRICKET'S MOST IN-DEMAND SUPERSTAR

ADELAIDE STRIKERS	SUNRISERS HYDERABAD	SUSSEX	KABUL ZWANAN	DURBAN HEAT
BIG BASH	IPL	T20 BLAST	APL	SA GLOBAL T20
DEC-FEB	MAR-MAY	JUL-AUG	OCT	DEC

says, all his skills developed. His mother wouldn't allow him to go and play cricket at the academies anyway, he says. All he ever did outside of this corridor was play weekend games, where he quickly gained renown. His brothers, who caught the worst end of the war, now supported his cricket. «Our time is gone,» they told him, «but you still have it on your side.» Taj Malik, one of the founding fathers of cricket in Afghanistan and a brother of national players Hasti Gul and Karim Sadiq, doesn't find any of this far-fetched. «Everybody starts this way in Afghanistan,» Malik says. «Draw stumps on the wall in your corridor with tabasheer [a white medicinal substance not too different to chalk]. Because there is no space, the batsman will only defend. To get them out you have to do something special, like turn it from behind the legs. But on concrete, it won't turn that much. So you have to develop unusual ways.» Rashid's explanation is similar. There was no point bowling offspin on concrete. That's why all the brothers were legspinners. «When you bowl legspin, you can turn it both ways,» Rashid says. «Offspin is just bowling the same thing again and again. Even my nephews bowl legspin.» Offspin uses predominantly the fingers to impart spin. The ball turns back in to the right-hand batsman, but for variation the bowler has to largely depend on the pitch. At any rate, he cannot make it turn the other way.

Legspin uses predominantly the wrist for turn, away from the right-hand batsman; however, a wristspinner can release the ball from the back of the hand to turn it the other way. It gives him an equaliser on true surfaces, and it is called the wrong'un. Rashid says he learnt to mix the two arts - wristspin and fingerspin - during these games with his brothers in houses spread across Bati Kot, Peshawar, Jalalabad and Kabul. Because the tape ball turned slowly, he had to develop a quick-arm action, and along with his wrists, he had to use his fingers much more than other legspinners. This is why he came to have an unusual release point - with the bowling arm perpendicular to the ground, as opposed to slightly lower and wider out to the side for a regular legspinner. «If I bowled like a normal wristspinner, it would turn slowly. Brothers would defend easily. I had to do something different. Then I began to flick it with the finger. Carrom-ball bowlers flick it from the front, I flick it from behind. My quick-arm action, my speed, my quick wrong'uns all developed playing there.»

If the necessity behind the art was the concrete surface, the inspiration was a larger-than-life Pathan on the other side of the border. Or maybe, at the time, on the same side. Shahid Afridi appealed to Afghan hearts. He was a Pathan like most cricketers from Afghanistan. He played to entertain and to be entertained, for the thrill. He was anything but conservative. He mocked pragmatism in batting. He was expressive, he was full of energy, he spoke Pashto. Denied a normal life, denied even sport for a long time, Afghans, full of gallows humour, look for entertainment first and foremost in cricket. Afridi was the embodiment of that thrill and entertainment. In a «25 Questions» interview with ESPNcricinfo, Mohammad Shahzad was asked which cricketer he texts the most. «Afridi» was the quick answer. Their national T20 tournament is called Shpageeza, which translates to «six». Can there be a bigger tribute to Afridi?

Rashid wanted to be Afridi. Just like Afridi, he started off as a batsman. He would open the innings and try to bat like Afridi. «He is one player who has fans all over the world,» Rashid says. «You don't get such players every day. Check his record, he doesn't have many centuries, but whenever he arrived, he would hit four-five-six sixes, entertain and leave. That is why he had fans. You had to become his fan.»

Rashid is a man who perennially lives out of a suitcase. The first club to recruit him in Afghanistan was called Kochai, which means «nomads»

missed Pakistan batsman in their Asia Cup encounter in 2018, stories have emerged of him having a Pakistani identity card, of his house in Pakistan, of his cricketing education in Pakistan. You type «Is Rashid Khan» in a Google search box and one of the first prompts is: «Pakistani?» It is a question he has had to answer at home too. Houses in the northern Indian plains, Pakistan and Afghanistan are similar: mostly flat and featureless except for the corridor that runs along a side of the house and doubles up as a space to park vehicles in. This is the space in which the kids of the house play cricket. Indian kids use plastic balls; those in Pakistan and Afghanistan use tennis balls wrapped in insulation tape. There was not much unusual to this life for an Afghan kid in the 2000s. Pathans will tell you they can't do jobs that involve sitting in offices. They are too free-spirited for that, and they have large families to feed. And they have large families because they need muscle. So Rashid was your typical Afghan child of that time: part of a large, free-spirited business family, madly in love with cricket, playing in the house because it was not safe outside, living in the shadow of the war. Once they were settled in Peshawar, the brothers brought over the rest of the family - Rashid included - to Pakistan. Rashid says he must have spent seven to eight years there. The memories and the timelines are not very clear in his mind, but amid the displacement and war, cricket remains a constant. Rashid says their corridor - whether they lived in Bati Kot, Peshawar, Jalalabad or Kabul - was long enough to hold six cars. You could bowl fast if you wanted to, but you had to use the plastic ball if you did. Rashid started off as a fielder in the games his brothers played before becoming a serious participant himself. The rules were thus: the oldest brother batted first, followed by the next oldest, and so on, and a batsman could bat until he was dismissed; Rashid's turn was sixth. The age difference between the brothers was such that even nephews became part of the cricket. They would play for hours - Rashid reckons he bowled about 25 overs every day - until their mother called them in for dinner, whereupon they would start playing indoor cricket using a flip-flop as a bat.

The unique thing about this cricket was that all the brothers were legspinners. Rashid rates them quite highly; it's just that they didn't have the freedom and the support in their time to make it big. The corridor is where, Rashid

Rejoice like Rashid: arms wide open, like Afridi, or leaping into the air, or taking off like an aeroplane - he needs the variations because there are so many wickets to celebrate.

To be contineud...

RASHID KHAN

Afghan, nomad, superstar

How Rashid Khan came through war and displacement to become the best in the world

Forget geography, look at the history.

Continued from previous edition...

During the Soviet invasion in the 1980s, even as an America-backed Pakistan used the porous border to destabilise the USSR and, in the process, Afghanistan, Afghan civilians found themselves refuge in Peshawar. The poor lived in camps - Kacha Ghadi being the most famous. Those who could afford to rented houses in Peshawar, and some of the richer ones went all the way to Islamabad. Life doesn't stop when you become refugees. You find work, you set up businesses, your families keep growing. Sometimes you get yourself an ID in the country of refuge to make things smoother. You also pick up the local culture. That is how cricket happened to the Afghan refugees. In 1992 they saw Imran Khan's «cornered tigers» win the World Cup and bring together all of Pakistan. The Afghans became part of the Peshawar club and academy scene, which would go on to become Pakistan's best. Bati Kot was one of the worst affected areas during the Russian war in the 1980s, and again in the post-9/11 world. Rashid's five older brothers and four older sisters were all refugees in Peshawar, he says. His parents and the two youngest

brothers were left behind: they had a big house and a tyres business they didn't want to completely abandon. The plan was for the brothers to set something up in Peshawar before they could bring over the rest of the family. War is not the best time for keeping records. If you start counting years and placing places, things won't always add up. The real extent of Pakistan's role in the making of Rashid might never be known. It was most likely in Peshawar club cricket that he cut his teeth. It was watching a Pakistani star, Shahid Afridi, that gave him most joy as a kid, and inspiration as an adolescent. It was the Pakistan Cricket Board that helped the Afghan cricketers with everything from coaches to academies to trainers to physios to match time - until, in the mid-2010s, Afghanistan formed a strategic partnership with India, which has hostile relations with Pakistan. Since then, players who had families and houses in Pakistan until recently have been ordered by their cricket board to come back with their families if they want to continue representing Afghanistan.

The break-up with Pakistan, at least among the fans, has been bitter. Ever since Rashid wagged his finger at a dis-

AZIZI BANK AZI PAY

PAY EASY!
Wallet in your Mobile!

عزیزی بانک
Azizi Bank

- Mobile Recharge
- Pay Money
- Scan & Pay
- Add Money
- Request Recieved
- Create My Pal
- Bill Pay
- Open Account
- Get Money

AZi pay

24 HOURS CUSTOMER CARE NO:1515

www.azizibank.af